# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٤٢ ګڼه / پنجشنبه ۲۳ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۳ ثور ۱٤۰۳ هـ.ش / ۰۲ می ۲۰۲٤ میلادي


## د مالدارۍ او کرنیزو محصولاتو د نندارتون په اړه د رئیس الوزراء پیغام

الحمد لله و کفی و الصلوة و السلام علی عباده الذین اصطفی. اما بعد: درنو هېوادوالو او په خاص ډول د کرنې او مالدارۍ د برخې قدرمنو منسوبینو!

ډېر د خوښۍ او شکر ځای دی، چې په هېواد کې د څلور نیمو لسیزو له غمیزو وروسته سرتاسري امنیت او د داډ او خوښۍ فضا رامنځته شوې او زموږ حکومتي اداري او عام هېوادوال د هېواد د پرمختګ، اقتصادي پراختیا او ښېرازۍ لپاره هڅې کوي. د کرنیزو او مالدارۍ د محصولاتو دغه نندارتون د دې یوه ښه بېلګه ده، چې د هېواد د کروندګرو، مالدارانو او یاد سکتور نورو منسوبینو په نه ستړې کېدونکو هڅو او اغېزناک فعالیت شاهدي ورکوي. د کرنې او مالدارۍ برخه په افغانستان کې د اقتصادي پراختیا او پیاوړتیا یو مهم سکتور ګڼل کېږي. ۷مخ

## ازبیکستان له افغانستان سره سوداګري پراخوي



ازبیکستان له افغانستان سره د ۴۴ میلیونه ډالرو په ارزښت د صادراتو نوي تړونونه لاسلیک کړل. ازبیک رسنیو خبر ورکړی، چې تاشکند غواړي د نویو صادراتو د تړونونو په لاسلیکولو سره له افغانستان سره د سوداګرۍ او صادراتو لا زیات تړونونه لاسلیک کړي. د دغه راپور پر بنسټ، دغه تړونونه تاشکند ته د افغان سوداګرو د درې ورځني سفر په ترڅ کې لاسلیک شول. د ازبیکستان د سوداګرۍ او پانګونې خونه وایي، چې دواړه هېوادونه لا هم په پام کې لري، چې د ازبیکستان او افغانستان ګډه سوداګریزه شورا جوړه کړي، چې ۱۸ افغان شرکتونه به په دې شورا کې غړیتوب ولري. افغانستان دا مهال په کال کې د ۷ میلیاردو ۷مخ

## نزدیک به ۲۸ هزار گردشگر خارجی سال پار به افغانستان رفت‌وآمد کرده‌اند





اداره ملی احصاییه و معلومات می‌گوید، در یک سال گذشته این اداره ورود و خروج ۲۷ هزار و ۹۱۴ گردشگر خارجی به کشور را ثبت کرده است. بربنیاد آمار اداره ملی احصائیه و معلومات، به‌شمول ۶۷۵ تن از طبقه اناث، ۱۵ هزار و ۱۵۳ تن از ص۷

## نړیوال بانک هېواد کې پر یو شمېر پروژو پانګونه کړې





نړیوال بانک وایي، چې په افغانستان کې یې د اقتصادي کړکېچ د هوارې او د ځینو اقتصادي پروژو د پلې کولو په پار د ۸۴ میلیونه ډالره مرسته منلې ده. نړیوال بانک پرون په یوې خبرپاڼه کې ویلي، چې د دغو مرستو ۷۰ میلیونه به یې د افغانستان ۷مخ

### بزګر مېله او د کرنیزو محصولاتو نندارتون

**ملا عبدالغني برادر:** امارت اسلامی مصمم به رشد و تقویت زراعت در کشور است. ملا عبدالغنی برادر آخوند، معاون اقتصادی رییس‌الوزرا می‌گوید، امارت اسلامی مصمم به رشد و تقویت زراعت در کشور است. آقای برادر این مطلب را حین افتتاح سی‌ومین نمایشگاه محصولات و تولیدات زراعتی دربادام باغ کابل، بیان کرد.

### بزګر مېله او د کرنیزو محصولاتو نندارتون

**مولوي عبدالکبیر:** لسیزو جګړو کرنه کمرنګه کړې

د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر، د بزګر مېلې او د کرنیزو محصولاتو د دېرشم پسرلني نندارتون پرانیسته کې ویلي د وروستیو لسیزو خونړیو جګړو هېواد کې کرنه کمرنګه کړې او کرنیز سکتورېې خورا زیانمن کړی دی. مولوي عبدالکبیر زیاتوي: پانګوال دې هېواد کې پانګونه وکړي، اسلامي امارت یې ملاتړ کوي او تولې اسانتیاوې ورته رامنځته کوي.

### بزګر مېله او د کرنیزو محصولاتو نندارتون

**مولوي عبدالسلام حنفي:** کروندګرو ته دې عامه پوهاوی ورکړل شي

د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د بزګر مېلې او د کرنیزو محصولاتو دېرشم پسرلني نندارتون پرانیسته کې ویلي چې کروندګرو ته باید عامه پوهاوی ورکړل شي.

ښاغلي حنفي وړاندې وایي: د کرنې د ودې په پار افغان حکومت ګڼ چک ډېمونه په پام کې لري.

### بزګر مېله او د کرنیزو محصولاتو نندارتون

**مولوي باز محمد فیضان:** د سوداګرو او کروندګرو ترمنځ رامنځته شوې واټن له منځه وړو

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرسیتال، مولوي باز محمد فیضان د بزګر مېلمه او د کرنیزو محصولاتو دېرشم پسرلني نندارتون پرانېسته کې وایي، هڅه کوي تر څو د سوداګرو او بزګرانو ترمنځ واټن لمنځه یوسي او کورنیو محصولاتو ته ښه بازار موندنه وکړي.

### بزګر مېله او د کرنیزو محصولاتو نندارتون

**ملا آغا جان آخوند:** کرنې برخه کې بنسټیزې پروژې پیلېږي

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال ملا آغا جان آخوند، د بزګر مېلې او د کرنیزو محصولاتو دېرشم پسرلني نندارتون په پرانېسته کې وایي چې اسلامي امارت د کرنې په برخه کې د بنسټیزو پروژو پیل ته ژمن دی.

نوموړي زیاتوي چې کرنې وزارت دې برخه کې یو شمېر پروژې تر لاس لاندې لري.



## ملا عبداللطیف منصور: بند بخش‌آباد از نیازهای اساسی و اولویت امارت اسلامی است



ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی در سفر به ولایت فراه و بازدید از بند بخش‌آباد در این ولایت گفته که این بند نه تنها از نیازهای اساسی برای ولایت فراه است بلکه از اولویت‌های امارت اسلامی نیز است. وزارت آب و انرژی دیروز از سفر آقای منصور با شماری از مقام‌های محلی ولایت‌های هرات و فراه به بند بخش‌آباد و بازدید از آن، خبر داده است. سرپرست وزارت آب و انرژی حین بازدید از جریان کار بند بخش‌آباد، بر تکمیل کارهای فرعی و رسیدن به مرحله اصلی ساخت بند، تاکید کرده است. ملا عبداللطیف منصور، آغاز کار دوباره ساخت بند برق بخش‌آباد را در نتیجه تلاش‌های امارت اسلامی بیان کرده افزود که کار آن پیشرفت قابل ملاحظه‌ای داشته است. این مقام امارت اسلامی تاکید کرد که برای ساخت بند بخش‌آباد، بودجه و ظرفیت کافی وجود دارد. بند بخش‌آباد در ولایت فراه از بندهای مهم آبی کشور به شمار می‌رود. در حال حاضر کار حفر تونل‌های انحرافی بند بخش‌آباد، تکمیل شده‌است.

## اروپايي ټولنه افغانستان کې د اقليم بدلون برخه کې همکاري کوي

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې شارژدافیره وایي، چې دغې ټولنې د اقلیم له بدلون سره د مبارزې په برخه کې له افغانستان سره ۱۵ مېلیونه یورو ځانګړي کړي دي. رفیلا اېودېس وایي، افغانستان د اقلیم د بدلون په وړاندې تر ټولو زیانمن هېواد دی. مېرمن اېودېس پرون پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي، چې د اروپايي ټولنې د اسیا د اړیکو د څانګې مشر پیټرز اوستوبز افغانستان ته د خپل سفر په ترڅ کې د اروپايي ټولنې له سیمه‌ییزو همکارانو سره د مرستو تړون لاسلیک کړ. د اروپايي ټولنې شارژدافیره وایي، افغانستان د اقلیم له بدلون سره تر ټولو زیات زیانمنوونکی هېواد دی او افغان مېرمنې له دې بدلونونو ډېرې اغېزمنې شوې دي.



## برگزاری میله دهقان و ۳۰ نمایشگاه محصولات زراعتی در فارم تحقیقاتی بادام باغ

نخستین نمایشگاه محصولات زراعتی سال ۱٤۰۳ به مدت چهارر روز از تاریخ ۱۳ تا ۱٦ ثور در فارم تحقیقاتی بادام باغ کابل برگزار شد. هدف این نمایشگاه هماهنگی بین بازرگانان ملی و بین المللی با دهاقین کشور و معرفی تولیدات داخلی به بازارهای داخلی و خارجی خوانده شد.

مسئولان امارت اسلامی افغانستان گفتند تلاش ها برای معیاری سازی تولیدات زراعتی و عصری شدن زراعت و آبیاری جریان دارد.

**مولوی سطر اعظم عثمانی معین وزارت زراعت و مالداری گفت** کشور در بخش تولید مواد خام به خودکفایی رسیده و تلاش ها جریان دارد تا سیستم زراعت و آبیاری عصری گردد. به خصوص با ایجاد بندها و توزیع تخم های اصلاح شده زراعتی.

**ملا عبدالغنی برادر معین اقتصادی ریاست الوزرا در این مراسم گفت:** در بخش زراعت بودجه افزایش یافته و برای بازاریابی محصولات زراعتی، ایجاد بندها برای مدیریت آب، ماشینی سازی زراعت و آموزش دهاقین برای استفاده از ماشینری زراعت نیز تلاش ها جریان دارد.

**مولوی عبدالسلام حنفی معین اداری ریاست الوزرا گفت:** برای خودکفایی زراعت تلاش ها جریان دارد. به گفته ایشان ۸۰ درصد مردم از زراعت تامین معیشت می کنند. همه سکتورهای خصوصی در بخش ایجاد سردخانه و تکمیل کارهای باقی مانده آن سرمایه گذاری کنند. بخاطر بازاریابی فراورده های زراعتی پالیسی کارا روی دست گرفته شده.

مولوی عبدالکبیر معین سیاسی ص۷

## سرمقاله

## اسلامي نظام کې د مزدورانو پالنه

دا حقیقت له هیچاپټ نه دی چې د اسلام مبارک دین سپېڅلي لارښوونې سراسرد ټول بشریت پرخیرو ښېګڼه ټینګار کوي. اسلام د عدالت، انصاف، شفقت، لورینې او هرچا سره د خواخوږۍ ښوونه کوي، په تېره بیا د انساني ټولنې ګړدو بې وسو، بې وزلو اولاس لاندې وګړو سره د انتهایي ډېرې نیکۍ، ترحم، پرهغوی د زړه سوي او دحقونو پرورکړه یې زښته ډېرتاکید شوی. مثلاً په نبوي احادیثوکې راغلي چې مزدورته د هغه د خولو تروچېدو مخکې لااجرت ورکړئ. تردې چې وایي پخوانیو مسلمانانو کې هغه درې کسان چې په یوه سمڅ کې د پرښورا ښویېدو په وجه بندپاتې شوي وو، یوه یې له خپل مزدور سره د ښېګڼې عمل خدای تعالی ته وسیله کړچې له برکته یې دعا قبوله او د سمڅې خوله کې څه نا څه چوله پیدا او دوی ته د راوتلو لارپیدا شوه. مقصد دا چې اسلام په دې برخه کې هیڅ کومه نیمګړتیا نه لري اونه ددې محتاج دی چې د مزدورانو اولاس لاندې وګړو حقوق د کمونیزم له فلسفې راواخلي. البته اسلامي نظام هم د پانګوالو لپاره خپلې مناسبې لارښوونې لري اوهم د اجیرانو. اسلام نه دا مني چې شتمن خلک پربې وزلو خپلې لوبې وکړي اونه دا چې مزدوران راولاړ شي او د شتمنو مالونه پر خپلو ملګرو وویشي . په دې توګه مسلمانان باوري دي چې اسلامي قانون د هرانساني فرد د ټولو حقوقو متضمن دی او په خورا ښه ډول یې د واړه، زاړه، نارینه، ښځینه، آمر او مامور، شتمن او بې وزلو حقونه او مکلفیتونه تشریح کړي او د سرغړونې په صورت کې یې دعذابونو اخطارورکړی دی .له بده مرغه معاصره نړۍ کې دا وخت دا جیرپه نامه یوازې سیاست او ناوړه استفاده کیږي لکه هغه څه چې د مګړۍ لویدیځو پانګوالو هېوادوکې د مزدورانو په حق کې ترسره کیږي. په دې هکله د اسلام اونورو ترمنځ لوی توپیر دادی چې زموږ د شرعي لارښوونو له مخې د حکومت په چوکاټ کې دننه هر مامور ځکه یو اجیر ګڼل کیږي چې اجرت یې له بیت الماله ورکول کیږي، که څه هم امیر، خلیفه، والي، وزیر او قوماندان وي، بیا لویان چارواکي وړو مامورینو ته په داسې سترګه ګوري لکه فقط چې د هغوی اجرت له خپل شخصي جیبه ورکوي. په دې اساس د هراسلامي نظام مکلفیت باید دا وي چې واړه او لوی مامورین یې ټول په دې وپوهول شي چې دوی یقیناً د خلکو مزدوران دي. په دې اساس نولازمه ده چې د ټیټ رتبه او لوړ رتبه ترمنځ نه په حقوقو او اجرت کې څو برابره زیات توپیروي اونه دا چې پر وړو هرډول قوانین جاري کیږي، خو لویان ترې مستثنی وي.

**رښتینی مثالي نظام د مزدورانو دا ډول پالنه کوي.**

**مزدور ته د خولو تر وچېدو وړاندې خپله اجوره ورکړئ.** حدیث شریف

# زه عبث نه یم پیدا شوی!

حسان‌مجاهد

ما(انسان)ته د مور په نس کې روزي حواله شوه، کله چې پیدا شوم مور یې تر بل هر چا په ما دومره مهربانه کړه چې زما لپاره یې د ژوند ټول خوندونه او د آرام خوبونه پرېښودل، کله چې څه لوی شوم پلار یې راته د سالمې روزنې لپاره مقرر کړ او زه یې د ژوند له چارو سره اشنا کړم، کله چې ښوونځي ته لاړم، نو ښوونکي خپل اهداف راته په ګوته کړل او زه یې د پرمختګ په لور وهڅولم.

له دې ور هاخوا زما لپاره اسمان پورته ولاړ او ځمکه لاندې راته فرش وغوړېده، د نړۍ له پیدایښته بیا تر ننه د ورځې راته لمر رڼا کوي او د شپې راته سپوږمۍ او ستوري ځلا کوي، له آسمانه راته اوبه راوري او له ځمکې راته نباتات را ټوکېږي، د ځمکې لاندې یې راته کټورې زېرمې پیدا کړې دي، ستر او قوي ځناور یې زما لپاره عاجزه او مسخر کړل، زما لپاره یې مختلفې او ګټورې هواګانې وچلولې؛ خلاصه دا چې له سره تر نوکه یې په نعمتونو وپوښلم او له آدمه تر دې دمه د دنیا ټول نظام او په دنیا کې هر څه زما په خدمت کې روان دي او روان به وي؛ نو آیا له دې هر څه سره سره، بیا هم زه انسان عبث پیدا یم؟!

نه، هېڅکله نه! زه د یو ستر هدف لپاره پیدا یم، هغه دا چې د رب عبادت وکړم او په خپل ژوند کې داسې ستر بدلون را منځته کړم چې هر څوک د رب عبادت ته فارغ وي، خلکو ته د بندګانو له غلامۍ، د مصنوعي خدایانو له بندګۍ او د باطلو ادیانو له پیروۍ خلاصون ور په برخه کړم، په ځمکه د الله تعالی خلیفه جوړ شم او ټول دین یې حاکم وګرځوم؛ ځکه زما رب ملائکو ته داسې نه دي ویلي چې زه یو عالم، یو عابد یو زاهد پیدا کوم، بلکې ویې ویل: زه په ځمکه کې د ځان یو خلیفه پیدا کوم. هغه خلیفه له ما(انسان) پرته بل څوک نه وینم.

زه خو عبث نه یم پیدا شوی، زه د دې لپاره پیدا یم چې د دین له خدمت څخه باید یوه لحظه ونه سپوم؛ ځکه دغه سپېڅلی دین زموږ د ژوند قانون دی او زموږ د دنیوي او اخروي ژوند ضامن او ساتندوی دی.

د رب سرکشه بندګان او زما دښمنان، خو ما نن د پیداښت له هدفه را ګرځوي، دوی ما له داسې شي جوړوي، چې زه د یو حیوان په څېر ژوند وکړم او په دنیا کې مې ستر اهداف یوازې خوړل، څښل او نسل زیاتول وي، خو نه! رب مې له ما څخه دا ډول ژوند نه غواړي، هغه داسې زندګي رانه غواړي چې زه یوازې انسان نه، بلکې مسلمان یم، کله چې له دنیا سترګې پټوم او مرم، نو زما نیستي له دنیا څخه د یوې سترې هستۍ له منځه تلل وي، زما په نیستۍ ماهیان په دریابونو او مرغان په غارونو کې ژړا کوي، زما ژوند د ټولو مخلوقاتو لپاره یو رحمت وي، کله چې له دنیا ځم، نو نه یوازې انسان، بلکې د انسانیت یو لارښود او رهبر له دنیا کډه کوم، زما په مرګ دنیا له یو ډول فعالیت څخه د شا پر لور روانېږي، په کوچېدلو مې مسلمانان له دیني پرمختګ څخه بې برخي پاتې کېږي، له دنیا څخه تر کوچېدو وروسته تر شا یوازې نوم نه، بلکې ستر تاریخونه او کارنامې پرېږدم، له دنیا څخه باید په داسې حال کې لاړ شم چې ژوندي عالمونه مې له فتنو څخه ژغورلي وي او راتلونکو نسلونو ته مې پوره کار کړی وي، زه باید له دنیا څخه په داسې حال کې لاړ شم، چې نوم مې تر پېړیو پېړیو پورې یاد شي او د اسلامي امت لپاره یو ستر ویاړ وبلل شم. زه عبث نه یم پیدا زه د سترو اهدافو لپاره پیدا یم، هغوی چې ما (انسان) نن ورځ په ورو ورو او بې ګټې کارونو بوخت ساتي، زما ستر دښمنان دي. ملت جوړونه د انسان یو میراثي دنده ده او ما ته دغه سپېڅلې دنده له ډېرو پاکو او پرمختللو اشخاصو پیغمبرانو او اسلافو را پاتې ده، زه انسان باید داسې شخص جوړ شم چې ملتونه وروزم او ملتونه تر خپل هدفه ورسوم.

# د سترې محکمې ځینې قوانین

منیرفاروقي

د نړۍ ټول انسانان د یوې داسې لویې محکمې سره مخامخ کېدونکي دي، چې هلته واسطه، پیسې او زور نه په کارېږي. مخکې له دې، چې له دې سترې او لویې محکمې سره مخ شو؛ باید دغه لویه او ستره محکمه و پېژنو، چې هغه څنګه محکمه ده.

۱- هغه داسې یوه محکمه ده، چې هلته ښایست، رنګ او نسب په کار نه راځي. ژبه، مقام او منصب نه چلېږي. هلته مال، دولت او عصري ټکنالوژي آنتن نه ورکوي.

۲- غرور، تکبر، خود خواهي او لهولعب نشته. له ډاره به د هر سړي سترګې د اسمان په طرف وي، چې الله جل جلاله به څنګه حساب ورسره کوي.

۳- د الله جل جلاله پر وړاندې به د خلکو سرونه ټیټ وي.

۴- ټول غړونه به د الله جل جلاله پر وړاندې چپ وي.

۵- خپل اعمال به په انځوریز ډول ګوري، کوچني او لوی اعمال به یې په انځوریز ډول ثبت شوي وي.

۶- د اعمالو تللو لپاره به یوه کره تله/ترازو لګول شوې وي او اعمال به په کې تلل کېږي.

۷- ستا یو عمل به هم د ملایکو څخه نه وي هېر شوی، چې په عمل نامه کې له لیکلو پاتې شوی وي.

۸- د دروا‌غو شاهدان به نه وي، ستا د بدن اندامونه/غړي به شاهدي ورکوي.

۹- غایبانه فیصله، نقض او استناف به نه وي.

۱۰- له حساب څخه به هېڅوک نه پاتې کېږي او عمل نامه به یې په لاس ورکول کېږي.

۱۱- رشوت، واسطه، مدافع وکیل او ژباړونکی به نه وي.

۱۲- دوسیې به پټې او سري نه وي، د قیامت په ورځ به ورته خپل کتاب غوړېدلی را ووېستل شي.

۱۳- دغه حساب کتاب به د سختو امنیتي تدابیرو لاندې کېږي. الله جل جلاله فرمایي: ژباړه (هر څوک به په داسې حال کې راځي، چې یو پورې وهونکی/ټېله کوونکی او یو شاهدي ورکوونکی به ورسره وي).

ملګرو! هلته به د انسان عقل سر ته راشي، چې چېرته دي هغه ښایستونه چې موږ به پرې نازېدو؟ رنګ او نسب چېرته دی؟ ژبه، قوم، مقام او منصب چېرته دی؟ هلته چې په کار راځي، یوازې او یوازې نېک عمل دی.

چا چې په دنیا کې نېک اعمال ترسره کړل، د الله جل جلاله او رسول الله اطاعت یې کړی وي، نو همدغو خلکو ته به عمل نامې په ښي لاس کې ورکړل شي او دوی به خوشحاله خپلو کورنیو ته راستانه شي او دوی به هېڅکله نه غمجن کېږي.

قدرمنو! هغې لویې محکمې ته تیاری په کار دی. الله جل جلاله دې موږ او تاسو سره اسانه حساب کتاب وکړي. امین یا رب العلمین

# د کابل - کوالالمپور تر منځ د اړیکو نوی باب!

شاهدالله رحیمي

په کوالالمپور کې د ا.ا.ا. لوی سفارت مرستیال د روان کال د اپرېل په ۲۳ مه لوړ پوړی مالیزیایي پلاوی چې کابل ته د رسمي سفر په موخه راغلی و، بېرته کوالالمپور ته ستون شو.

یاد پلاوی چې مشري یې د مالیزیا بهرنیو چارو وزارت کوله ترڅنګ یې د لومړي وزیر د دفتر مشاورین، کورنیو چارو وزارت او دفاع وزارت مسوؤلین هم شامل وو، له سفره یې موخه د افغانستان د اوسني وضعیت ارزونه، په کابل کې د لومړي ځل لپاره د خپل ډیپلوماټیک حضور په اړه غور او په عموم کې د افغانستان د هر اړخیز حالت بشپړ راپور د مالیزیا لومړي وزیر ښاغلي انور ابراهیم دفتر ته چمتو کول وو، تر څو راتلونکي کې د نوموړي احتمالي سفر چمتو کولو کې ګټور ثابت شي.



دا سفر په داسې حال کې تر سره شو چې د کوالالمپور او کابل تر منځ له فتحې وروسته په اړیکو کې نوی باب پرانیستل شوی، په تېر یوه کال کې مالیزیا په کوالالمپور کې د ا.ا.ا. لوی سفارت ته د نوي افغان حکومت دوه تنه ډیپلوماټان ومنل او یاد هېواد کې افغان ډیپلوماټانو رسماً د سفارت چارې پیل کړې، د ګمارل شویو ډیپلوماټانو له لوري په یاد سفارت کې د ا.ا.ا. بیرغ پورته او اوس د یاد سفارت چارې په عادي بڼه مخته وړل کېږي، برسېره پر دې په مالیزیا کې د مېشتو افغانانو هر راز ستونزو ته د رسېدنې ترڅنګ ټولو افغانانو ته هر راز قونسلي خدمات هم وړاندې کېږي. کوالالمپور، چې تر دې وړاندې یې په کابل کې ډیپلوماټیک حضور نه دی لرلی اوس لېواله دی، چې له نوي افغان حکومت سره په بېلا بېلو برخو کې د دوه اړخیزو اړیکو نوی باب پرانیزي او ګډې همکارۍ ته دوام ورکړي، په همدې موخه یې کابل ته په وروستي سفر کې د رئیس الوزرا له سیاسي مرستیال، بهرنیو چارو، کورنیو چارو، ملي دفاع، عامې روغتیا، سوداګرۍ او صنعت، کانونو او پټرولیم وزارتونو له رهبرۍ سره بېلا بېلې لیدنې ترسره کړې.

مالیزیا د آسیا په سوېل ختیځ کې یو پرمختللی هېواد دی، چې له افغانستان سره د خپلو اړیکو په لړ کې همېشه بې ضرره او دوست هېواد پاتې شوی دی، په اسلامي نړۍ کې یو له هغه هېوادونو څخه ګڼل کېږي، چې د مسلمانانو د دفاع او حقوقو د ملاتړ غږ پورته کوي، په ځانګړي ډول په غزه کې د روان صهیونستي یرغل په مخالفت کې د نورو ټولو اسلامي هېوادونو په منځ کې مالیزیا له ټولو وړاندې ده.

له کابل سره د کوالالمپور لومړنۍ اړیکې د شوروي یرغل په وړاندې د جهاد پر مهال په کوالالمپور کې د دفتر په پرانیستلو پیل شوې، چې وروسته بیا هماغه دفتر په سفارت بدل او تر ننه د یاد سفارت له لارې د دواړو مسلمانو او دوستو هېوادونو ترمنځ اړیکې پالل کېږي.

دا مهال په یاد هېواد کې لسګونه افغان سوداګرو پانګونه کړې، چې لویو تجارتونو یې افغانستان د مالیزیا وګړو ته پېژندلی دی، ترڅنګ یې سلګونه افغان محصلین هلته په مختلفو ایالتونو کې په زده کړو بوخت دي، ګڼ شمېر افغان کډوال چې په تېرو څو کلونو کې د مختلفو لاملونو له امله یاد هېواد ته کډوال شوي، هلته استوګنه کوي.

مالیزیا د هغو هېوادونو په قطار کې ځای لري، چې نوي افغان حکومت ورسره د ښو او دوستانه اړیکو جوړولو په برخه کې زیاته لېوالتیا لري، په وروستیو مجالسو کې افغان لوري هر یو له خپل اړخه په مختلفو برخو کې د ګډې همکارۍ ډاډ ورکړ او ویې ویل چې مالیزیا په اسلامي نړۍ کې د ښه موقف او نوم څخه په استفادې له مسلمان او دوست هېواد افغانستان سره، چې تر اوږده جنګ وروسته د پرمختګ مزل طی کوي، مرسته او لاسنیوی وکړي.

کابل ته د مالیزیایي لوړ پوړي پلاوي تر سفر وروسته به د مالیزیا دولت په کابل کې د سیاسي استازولۍ په پرانیستلو او په راتلونکي کې د لومړي وزیر ښاغلي انور ابراهیم په احتمالي سفر غور وکړي، تر څنګ به یې په مختلفو برخو کې له ګڼو ادارو سره د همکارۍ نوي فرصتونه ایجاد او ګډه همکاري پیل شي. پای

# د فرهنګي مبارز اخلاق

لومړۍ برخه - ژباړه: او تشریح: مولوي نورالحق مظهري

د دې لپاره چې د فرهنګي مبارز مبارزه ډېره ښه پایله ورکړي او د حق په دعوت کې خپل هدف ته ورسېږي باید د دعوت او مبارزې اخلاق په ځان کې عملي کړي او د ښو اخلاقو په ګاڼه ځان ښایسته کړي.

فرهنګي مبارزه چې په اصل کې هماغه دعوت دی ډېر اخلاق لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱ - اخلاص

د دین داعي او مبارز باید خپل نیت یوازې د الله تعالی د رضایت لپاره وګرځوي او نور ټول شیان له پامه وباسي.

اخلاص په لغت کې دې ته وایي چې انسان خپل ټول اطاعت او عبادت له ریا پاک کړي او یواځې یې د الله تعالی لپاره وګرځوي.

فضیل رحمه الله فرمایلي : د خلکو لپاره د یو کار پرېښودل ریاء ده، د خلکو لپاره د یو کار کول شرک دی او د دواړو څخه د ځان ساتل اخلاص دی.

جنید رحمه الله فرمایي : اخلاص یو راز دی د الله او بنده تر منځ، ملائکه نه ده په خبره چې ویې لیکي، شیطان نه دی پرې خبر چې فاسد یې کړي او د انسان نفسي اشتیاق نه دی پرې خبر چې له ده یې واړوي.

سهل رحمه الله ته وویل شول: پر نفس څه شی ډېر سخت دي؟ ده ورته وویل: اخلاص؛ ځکه چې په اخلاص کې نفس هېڅ ونډه نه لري.

ځینې وایي: اخلاص دې ته ویل کېږي چې ته پر خپل عمل بې له الله بل هېڅوک شاهد ونه نیسې او بې له الله د هېچا څخه د اجرت غوښتنه هم ونه کړې.

مکحول رحمه الله ویل: څوک چې څلوېښت ورځې اخلاص وکړي نو د حکمت چینې به یې له زړه څخه پر ژبه جاري شي.

ابوسلیمان داراني رحمه الله ویل: انسان چې کله اخلاص وکړي، نو وسوسې او ریاء ورڅخه لیرې کېږي.

هروي رحمه الله ویل: اخلاص دا دی چې ته خپل عمل د هر عیب او نفسي غوښتنې څخه پاک وساتې: لکه د خلکو په زړونو کې د محبوبیت پیدا کېدلو غوښتنه، دا چې خلک یې ستاینه وکړي او بد یې ونه وایي، خلک یې تعظیم او احترام وکړي، د خلکو څخه د مال غوښتنه لري، د خلکو څخه د خدمت او محبت غوښتنه لري او داسې نور هغه منفي شیان چې د عمل کولو په وخت کې د نفس په واسطه د انسان ذهن ته راځي.

د اخلاص ګټې:

۱ - اخلاص د اعمالو او اقوالو په قبلېدلو کې پایه او اساس دی؛ ځکه نو که موږ په خپلو کارونوکې اخلاص وکړو الله تعالی به یې ډېر ژر راڅخه قبول کړي.

۲ - اخلاص د دعاء د قبلېدلو لپاره پایه او اساس دي؛ ځکه نو که موږ په خپلو دعاګانو کې اخلاص وکړو الله تعالی به یې ډېر ژر راڅخه قبولې کړي.

۳ - په اخلاص باندې د انسان مرتبه په دنیا او آخرت کې لوړېږي، ځکه نو که موږ اخلاص وکړو الله تعالی به مو د لوړې مرتبې خاوندان وګرځوي.

۴ - په اخلاص باندې انسان د وسوسو او وهمونو څخه ساتل کېږي؛ له همدې امله که موږ په خپلو کارونو کې اخلاص عملي کړو ارومرو به د سوسو څخه خلاصون ومومو.

۵ - په اخلاص باندې بنده بېله الله د نورو شیانو د بندګۍ څخه آزادېږي؛ ځکه نو اخلاص د توحید لپاره لوی او مهم رکن دی.

۶ - په اخلاص باندې ټولنیزې اړیکې قوي کېږي او د الله پاک نصرت د امت په برخه کېږي؛ ځکه چې اخلاص د دې ښکارندویي کوي چې ستا خدمت یوازې د الله لپاره دی او چې یوازې د الله لپاره وي ارومرو د الله تعالی د قبولیت وړ ګرځي او په ټولنه کې ګټور واقع کېږي.

۷ - په اخلاص باندې دنیوي سختۍ آسانه کېږي؛ ځکه چې د اخلاص په کولو سره الله تعالی د انسان سره مرسته کوي چې په نتیجه کې هر سختي ورته آسانه کېږي.

۸ - په اخلاص باندې د انسان زړه ته اطمینان راځي او احساس د خوشالۍ ورته حاصلېږي؛ ځکه نو که موږ اخلاص غوره کړو تل به مو د زړه اطمینان او خوشحالي په برخه وي.

۹ - په اخلاص باندې د انسان ایمان قوي کېږي او د ګناه او سرکښۍ څخه یې په زړه کې نفرت پیدا کېږي؛ ځکه نو د اخلاص درلودل د لا زیات قوت او انرژۍ سبب جوړېږي.

۱۰ - په اخلاص باندې د مصیبتونو په مقابل کې د انسان اراده او عزم قوي کېږي؛ ځکه د خدمت په کولو کې صبر او زغم ورته حاصلېږي.

منبع: طریقة لخدمة الدین

# د ساینس پر مختګ کې د مسلمانانو رول

درېیمه برخه – لیکوال: پروفیسور ارشد جاوېد – ژباړه: انوارالحق عاصم

اختراعات، نوښتونه او څېړنې

د فرانسې نامتو تاریخپوه «موسیوسیدیو» لیکي:

)) د دې یادونه باید وشـــي، چې عربانو(مسلمانانو) کاغذ، قطب نما، بارود او توپونه اختراع کړل، چې د دې اختراعاتو په برکت د ټولې نړۍ په ادبي، سیاســـي او نظامي حالاتو کې یو ســـتر انقلاب را ولاړ شو، د اروپا یو څو قلموالو له عربانو نه د دې شـــیانو د جوړولو شرف په زوره ترورلی دی د دوی په خبرو هېڅ باور نه شـــي کېدی، واقعیت دادی چې د دې شـــیانو مخترعین عربان دي او اروپایانو ته همدې عربانو د دې کارَول زده کړل)).

مســـلمانانو په منځنیو پېړیو کې په زرګونو کتابونه ولیکل چې لـــه علم او پوهې، اختراعاتو، نوښـــتونو او څېړنو څخه ډک وو، بدبختانـــه چې د دې خزانې لویـــه برخه چنګېزیانو له منځه یووړه او د اندلس د ســـقوط پرمهـــال ډېرې کتابونه عیســـویانو د اور نذرانـــه کړل، د یو اټکل لـــه مخې زموږ له درې میلیونـــو ډېر کتابونه د اور او اوبو خوراک شـــول، د یو غربي مفکر د وینا پر اســـاس چې د مســـلمانانو په زرګونو کتابونو کې یو کتاب هـــم وجود نه لري، د یو اټکل له مخې لـــه هرو درېیو زرو کتابونو څخه یوازې دوه کتابونه پاتې دي او پاتې نور یې د اسلامي هېوادونو په کتابتونونو او موزیمونو کې د حشـــراتو خوراک ګرځي، چې له بده مرغه مسلمانان ترې ګټه نه اخلي، ســـتونزه داده چې نړۍ د مســـلمانانو له ســـترو کارنامو بې خبره ده، بدبختانه چې موږ مسلمانان هم د خپلو اســـلافو له کارنامو ناخبره یوو او د لوېدیځ په مقابل کې د احساس کمترۍ ښکار یوو.

د اروپایانو یو ښـــه عادت دادی چې د هر ساینس سلسله د اروپا کوم پخواني یا نوي ساینسپوه پورې تړي، لکه د کیمیا پـــه هکله دوی وایي، چې د دې مخترع فرانســـوي «انټویتي لوائي زیر» دی په داســـې حال کې چې نور اروپایي پوهان یې دا دعوه باطله بولي.

په همـــدې ډول اروپایـــي تاریخپوهان د مســـلمانانو هرې اختراع، نوښـــت او څېړنې تاج هغه اروپایي ته په سر کوي چـــې لومړی یـــې د دې یادونه کـــړې وي، د بېلګې په ډول د قطب نمـــا اختراع یو خیالـــي انســـان «حُلویوګوجه» ته منسوبوي، په داســـې حال کې چې ډېر شـــمېر معتبر غربي مفکریـــن علی الاعـــلان وایي چې قطب نما د مســـلمانانو یوه پـــه زړه پورې اختراع ده، د همدې پـــه څېر لوېدیځ کې مشهوره ده چې «ګیلي لیوني» په اوولسمه پېړۍ کې دېوالي ســـاعت اختراع کړ، حال داچې څو پېـــړۍ وړاندې د مصر نامتو ساینســـپوه ابن یونس لســـمه پېړۍ کې دېوالي ساعت اختراع کړ.

د دې دوه لاملونه دي:

۱- یا خو لوېدیځوال د خیانت له امله داسې کوي.

۲- او یا دا چې د مســـلمانانو له دې اختراعاتو بې خبره دي.

په منځنیو پېړیو کې مسلمانانو بې شمېره شیان اختراع کړل، چې په لاندې ډول د ځینو یادونه کوو:

کیمیا

مشـــهور غربي عالم او تاریخپوه «(Rpbert Briffault) » لیکي:

» د کیمیا علـــم عربانو وموند، د تقطیـــر(Distillation)، تصعید(Sublimation) تبخیر(Evaporation) تګلارې یـــې اختراع کړې، لـــه دې پرته یې الکول، ښـــورې تېزاب، ګوګړو تېزاب، رانجه او ســـیمنټ ترلاســـه کړل چې وروسته یې د مکملې کیمیا او طبیعي څېړنو بنسټ کېښود)).

یو بل غربي مفکر «ډرېپر» وایي:

«پـــه تجربوي علومو کـــې دوی(مســـلمانانو) د کیمیا علم وموند، دوی د دې علم ځینې مهم ځیزونه سلفیورک اسیډ، نائټرک اسیډ او الکول معلوم کړل.

د انســـائیکلوپیډیا موافـــق د کیمیـــا په ډګر کې مســـلمانانو پوټاش، الکول، ســـلور نائټریټ، نائټرک ایســـډ، سلفوریک اسیډ، او القلي په موندلو کې لارښوونه کړې ده.

«ډرېپر» د مســـلمانانو د تجربوي تـــګلارې په هکله لیکي:

« دا هاغـــه څیـــز دی چې دوی یـــې د کیمیا اختـــراع ته اړ کړل همدوی وو چې د څڅېدلـــو/ تقطیر(Distillation)، تصعید(Sublimation)، ویلي کېدلو(Fusion) او تصفیه کولو(Filtration) لپاره هر ډول آلات اختراع کړل».

ول ډیورانټ (Will Durant) لیکي:

» پـــه واقعیت کې مســـلمانانو د کیمیا علـــم اختراع کړ، له دوی مخکې یونانیان په ګونګو فرضیو پســـې روان وو، همدا مســـلمانان وو چې پرله پســـې تجربـــو او څېړنو پر مټ یې د هر شـــي د ماهیت درســـت ریکارډ ترتیب کړ، همدوی د الانبیق(Alembic) په نامه آله اختراع کړه، دا لفظ اروپایي ژبو هـــم ومانـــه او د تقطیـــر(Distillation) الـــې ته یې (Alebic) نوم ورکړ، مسلمانانو د بې شمېره ځیزونو تحلیل وکړ، د الکلـــي(Alkali) او تېزابو(Acid) ترمنځ یې توپیر ځرګنـــد کړ، د عناصرو په خپلمنځي تمایل یې څېړنې وکړې او په سلګونو درمل یې جوړ کړل».

په دې کې هېڅ شـــک نشـــته چې د کیمیا مخترعین موږ یو، د کیمیـــا لفظ خپلـــه د دې ګواه دی، د (کیمســـټري) لفظ د عربي الکیمیا څخه اخیســـتل شوی، همداراز د کیمیا ډېرې اصطلاحات له عربي ژبې اخیستل شوي دي، لکه الکحل، الکلي، زعفران(Saffron)، سوډا، کافور(Camphor) او ...مســـلمانانو لومړۍ هجري پېړۍ کې د بنوأمیه په دور کې د کیمیـــا علم پیل کړ، په دې هکله أموي شـــهزاده خالد بن یزید(۸۵هــــ) څلور کتابونه ولیکل، له خالد وروســـته امام جعفر صادق(۷۶۵م) د کیمیاپوه په حیث مشهور شو.

مســـلمانانو یوه لویه کارنامه دا وکـــړه چې په درمل جوړولو کې یې له کیمیا کار واخیســـت، یعنې پـــه طب کې د کیمیا بنســـټ مســـلمانانو کېښـــود، داچـــې عربانـــو لومړی ځل ترشـــیح، تصعید، تقطیـــر، تذویب او تبلور تـــګلارې بیان کړې او بې شـــمېره کیمیـــاوي مرکبات لکـــه لائیکرایمونیا، نائټروهائیډروکلـــورک ایســـډ، مرکري اکســـائډ، پوټاشـــیم نائټریټ، فرائي ســـلفاس او ... جوړ کـــړل، له دې پرته یې بېلابېلې سرې او تېزاب جوړ کړل.

«ډرېپر» وایي: عربانو په نظـــري او عملي طب کې د کیمیا اطلاق پیل کړ او د ناروغیو په تداوۍ کې یې وکاروله.

لوېدیځـــو تاریخپوهانـــو هم پـــه کیمیا کې د مســـلمانانو د خدماتو اعتراف کـــړی دی، ګبن وایي: همدا عربان وو چې تر ټولو وړاندې یې د تقطیر عمل لپاره «فرنیق» اختراع کړ، د قدرتي نظام په درېیو ځیزونو یې تحلیل وکړ، الکلي او تېزابو ترمنځ یې توپیر وکړ، له یو بل ســـره اړیکه یې واضحه کړه او زهر یې په نرمو او ګټورو درملو باندې واړول.

ګســـتاؤلي بان لیکي، چې د کیمیا په ډګر کې د عربانو پراخه څېړنې لـــه هغه مرکباتو څخه اټکل کېـــږي چې مخکې یې شـــتون نه درلود او د دوی په طبّي کتابونو کې یادې شـــوي دي، پـــه ځانګـــړي ډول «قراوین» د عربانـــو اختراع ده، په صنعت او حرفت کې یې لـــه کیمیا ګټه پورته کړه، له دې په ډاګه معلومېږي چې دوی د رنګونو جوړښت، فلزاتو اخراج، فـــولاد جوړولو، پوســـتکو رنګولو او پـــه ... کې لوی لاس درلود.د نوې کیمیا په پرمختګ کې د مسلمانو ساینسپوهانو کتابونو بنسټیز رول اداء کړی دی.

(M.Ullmann) لیکـــي: دا د یونانیانو کتابونه نه وو، بلکې د مسلمانانو تألیفات وو چې د غرب پرمختللې کیمیا ته یې لاره هـــواره کړه، د کیمیا اړوند د مســـلمانانو لیکنې د اروپا متمدن تاریخ ته د مهمو عناصرو په څېر ثابتې شوې.

نـــور بیـــا...

# اې وروره او اې زویه له ښځو سره د موسی او یوسف علیهما السلام په څېر چلند وکړه!

ژباړه: عاکف مهاجر

د ماشـومانو یـوې تربیه کوونکې ښـځې د سـروزرو پـه اوبـو یـوه وړوکـې مقالـه د «محتـرم خاونـده، محتـرم وروره او محتـرم زویـه!» تـر سـرلیک لانـدې ولیکلـه او لومـړۍ کرښـه کـې یـې ولیـکل چې کلـه لـه کـوره وځـې فکـر کـوه تـه بـه لـه دوه ډولـه ښـځو سـره مـخ شـې چـې بایـد خپـل عفـت وسـاتې.

لومـړۍ ډلـه هغـه ښـځې دي چـې د عزیـز مصـر د ښـځې پـه مـرض مبتـلا وي ځـان بـه یـې ښایسـته کـړې وي، عطـر بـه یـې وهلـي وي، زلفـې بـه یـې زمنـځ کـړې وي او د حـال پـه ژبـه بـه درتـه وایـې چـې راوړانـدې شـه.

دوهمـه ډلـه هغـه ښـځې دي چـې ځـان بـه یـې ښـه پوښـلی وي مګـر د مجبـورۍ لـه وجـې بـه یـې یـو څـو لوښـي راخیسـتي وي او د حـال پـه ژبـه بـه درتـه خبـره کـوي «حتـی یصـدر الرعـاء و ابونـا شـیخ کبیـر»، نـو تـه ورسـره د موسـی علیـه السـلام پـه څېـر چلنـد وکـړه.

اې خاونـده، اې زویـه او اې وروره! تـه لـه دغـې لومـړۍ ډلـې سـره هغـه چلنـد وکـړه چـې یوسـف علیـه السـلام وکـړ، سـترګې کښـته کـړه او ورتـه و وایـه پـه اللـه پنـاه غـواړم.

همـدا راز دوهمـې ډلـې سـره هغـه چلنـد وکـړه لکـه موسـی علیـه السـلام چـې د شـعیب علیـه السـلام لـه لوڼـو سـره وکـړ، پـه ادب سـره ور وړانـدې شـه، حاجـت یـې پـوره کـړه او بیـا تـرې همداسـې وروسـته راشـه.

وګـوره اې خاونـده، اې زویـه او اې وروره د یوسـف علیـه السـلام پـاک لمنـي د دې سـبب شـوه چـې عزیـز مصـر جـوړ شـو او د موسـی علیـه السـلام شـهامت د دې سـبب شـو چـې اللـه جـل جلالـه ورتـه صالحـه ښـځه او کـور ورکـړل.

یا الله مونږ ته ستر او پاکلمني رانصیب کړې!

د ښـځې لبـاس د پـلار د تربیـې، د ورور د غیـرت، د خاونـد د نرتـوب او د متابعـت د مور ښـه ښـکارندوینه کـوي.

لـه همـدې املـه بـي بـي مریمـې تـه ویـل شـوي:

ژبـاړه: [سـورة مریـم: ۲۸] یعنـې اې د هـارون خـورې سـتا پـلار خـو هـم بـدکاره نـه وو، مـور دې هـم بـد فعلـه نـه وه.

پلار مور او ورور یې درې واړه ورته یاد شول.

همـدا راز یـوه نجلـۍ وایـي کلـه مـو چـې کومه ښـخه پـه خـراب لبـاس او بیـکاره حالـت کـې ولیدله مـور او پـلار یـې دریـاد کـړه بیا دغـه قـول د اللـه تعالـی و وایه [الصافـات: ۲۴] یعنـې دوی ودروئ لـه همـدوی بـه د هغـه پوښـتنه کیـږي چـې پـه دنیـا کـې یـې کـړي.

مطلـب د دغـې نجلـۍ پوښـته بـه یـې هـم لـه مـور او پـلار کېـږي لکـه پیغمبـر علیـه السـلام چـې وایـي خبـردار هـر یـو ستاسـو شـپونکی دی او هـر یـو د خپلـې رمـې یعنـې اهـل او عیـال د څارنـې پـه بـاره کـې مسـئول دی.

# مطالعه خلاقیت و قدرت تفکر ما را افزایش می‌دهد

احمد



مطالعـه در زندگـی مـا انسـان‌ها یـک مسـئله ضـروری و تأثیـر گـزار بـوده کـه توانایـی و آگاهـی مسـلکی مـا را ارتقـاع داده، هم‌چنـان معلومـات آفاقـی مـا را نیـز بیشـتر می‌سـازد، زیـرا همـه چیـز در دنیایـی معاصـر پیرامـون مـا، نهایتـاً جالـب و شـگفت‌انگیز بـه نظـر می‌رسـد، زمانی‌کـه بـه طبیعـت و جذابیـت ماحـول خـود نظر اندازیـم، ایـن مفکـوره بـه ذهـن مـا خطـور می‌کنـد کـه بـه چـه انـدازه همـه چیـز خارق‌العـاده و جذاب اسـت، پـس در ایـن صـورت بدانیـم کـه مطالعـه در راسـتای دنیـای امـروز و اطـراف مـا تـا چـه انـدازه مفیـد و مؤثـر اسـت.

از اینـرو گفتـه می‌توانیـم، مطالعـه بـه مـا کمـک می‌کنـد تـا درک روشـن و واضـح از مفاهیمـی کـه در اطـراف و ماحـول مـا اسـت، داشـته باشـیم.

روی ایـن اسـاس مطالعـه نمـودن بـه عنـوان ابـزار و وسـیله‌یی بـرای کسـب دانـش و آگاهـی مـا نهایتـاً ضـروری اسـت، زیـرا مطالعـه نمـودن و دانـش آموختـن، خلاقیـت و قـدرت تفکـر مـا را افزایـش داده، جایگاهـی مـا را در جامعـه و محیـط کار، مشـخص می‌سـازد، بنـاءً چنیـن ویژگـی هـا نـه تنهـا بـه مـا کمـک می‌کنـد تـا در تصمیم‌گیری‌هـا بهتـر عمـل کنیـم، بلکـه ایـن مسـئله گامـی در جهـت بهبـود جامعـه نیـز اسـت.

از اینـرو در شـرایط کنونـی کـه افغانسـتان بـه نخبـه‌گان و دانـش آموختـه‌گان بیشـتر نیـاز دارد، بایـد فرهنـگ مطالعـه نـه تنهـا کـه نهادینـه گـردد، بـل کسـب دانـش علـوم عصـری و اسـلامی نیـز یکـی از نیازهـای جـدی در عصـر حاضـر بـه شـمار مـی‌رود و در پهلـوی آن آموختـن فنـاوری هـم نیـاز بـه آمـوزش دارد، زیـرا فنـاوری امـروز توانسـته سـبک زندگـی بشـر در قـرن حاضـر را تغییـر دهـد و در زندگـی مـا سـهولت‌ها را بـه بـار آورد، بنـاءً در کشـوری کـه افـراد آن بـه مطالعـه و کسـب دانـش علاقـه دارنـد، بدون‌شـک، ترقـی، توسـعه و پیشـرفت، هم‌چنـان اختراعـات و اکتشـافات زیـادی را نیـز تجربـه کرده‌انـد.

مسـلماً مطالعـه یـک فراینـد متمرکـز و مسـتمر اسـت کـه بایـد دانـش آمـوزان و دانش‌جویـان، روش‌هـای مؤثـر و مفیـد در ایـن زمینـه را دنبـال کننـد و جـا دارد کـه مسـئولان ذیربـط و نهادهـای تحصیلـی نیـز در ایـن راسـتا مسـئولیت خـودرا ادا کـرده، بـا تأسـیس کتابخانه‌هـا در مکاتـب و نهادهـای تحصیلـی، هم‌چنـان راهکارهـای مناسـب متعلمـان و محصـلان را بـه مطالعـه تشـویق و ترغیـب نماینـد تـا فرهنـگ مطالعـه در کشـور مـا نهادینـه گـردد، زیـرا پیشـرفت، توسـعه و ترقـی کشـور وابسـته بـه نسـل جـوان و تحصیـل کـرده آن اسـت.

# واکمن دې پوهان او علماء ورنږدې کړي

د جماعت درولو باره کې روایت کې راغلي، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ به په لمانځه کې زموږ پر اوږو لاسونه راکېښودل او فرمایل به یې: برابر شئ، اختلاف مه کوئ، کنه زړونه به مو سره مخالف شي، خامخا دې ستاسو درانه او پوهه کسان ماته رانږدې شي، بیا دې هغه ورپسې شي چې دوی ته نږدې وي ، بیا هغه چې دوی ته ورنږدې وي. رواه مسلم (۱۲۲ -۴۳۲)

د حدیث تشریح او ګټې

حدیث کې "أولو الأحلام" راغلي، الأحلام د حلم جمعه ده، حلم یعنې ارام، درنښت، وقار او په چارو کې کره توب، همدا رازحلیم انسان پر ځان پوره کنترول لري او له حلم نه مراد عقل دی، ځکه درنښت، ارام او کره توب د عقل غوښتنې دي. د "النّهی" لفظ هم د نون په ضمه سره د نهیة جمعه ده او دا هم عقل ته وایي یعنې له بدو کارونو منع کوونکی. نو مطلب دا شو چې رسول الله ﷺ فرمایي: ماته دې هوښیاران، عالمان او درانه خلک رانږدې شي، د دوی په نږدېوالي کې له نورو ګټو سره لویه ګټه دا هم ده چې که اړتیا رامنځته شوه هغوی کې کوم یو لمانځه مخته کړل شي.

امام النووي رحمه الله لیکي: امام ته د پوهانو او عالمانو په نږدېوالي کې ډېرې ګټې دي، یو خو د دوی احترام او درنښت په کار دی، که امام ته اړتیا پېښه شوه نو دوی کې به یو لمانځته مخته کړي، داراز د امام د سهوِ په صورت کې دوی فتحه ورکولی شي. د رسول الله ﷺ د لمانځه د حالت او صفت زده کړه هم دوی ښه کولی شوی او بیا یې نورو ته هم ښه بیانولی او تشریح کولی شي. او همدوی د دې وړتیا لري چې نور یې پیروي وکړي.

امام النووي رحمه الله زیاتوي: د پوهانو او عالمانو مخته کول د جماعت په لمانځه پورې خاص نه دي، بلکې سنت او د پیغمبر لاره دا ده چې پوهان باید هر ځای مخته کړل شي او هر ځای باید لویانو او مشرانو ته ورنږدې کړل شي، لکه د علم مجالسو کې، د قضا او مشورو په مجلسونو کې او داسې نور. له دې حدیث نه دا هم معلومېږي چې د علماؤ مراتب هم باید مراعت شي، د زیات علم، دینداری، عقل، شرافت، عمر او وړتیا خاوندان باید له ټولو مخته کړل شي. په دې باره کې نور صحي حدیثونه هم راغلي دي. شرح مسلم للنووي(۴/ ۱۵۴)

د حدیثو مشهور شارح علامة الطیبي رحمه الله لیکي: دې حدیث کې د هوښیارانو او عالمانو د مخته کولو امر شوی ، چې د رسول الله ﷺ لمونځ زده کړي، د لمانځه أحکام او طریقه یاد کړي، بیا یې نورو خلکو ته بیان کړي. انس رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ مینه لرله چې مهاجرین او انصار ورنږدې کړي، چې لمونځ یې وساتي. شرح مشکل الآثار للطحاوي (۵۸۳۵) / تحقیق: شعیب الأرناؤوط.

له قیس بن عباد نه یو روایت راغلی، هغه وایي: د مدینې جومات کې لومړي صف کې ولاړ وم، د شا له خوا یو چا ورکش کړم! زه یې له خپل ځایه لرې او زما پر ځای هغه ودرید! قیس زیاتوي: قسم دی په لمانځه پوه نه شوم، خو له لمانځه وروسته مې چې ولید هغه ابي بن کعب و، هغه راته وویل: ځوانه! خپه نه شې، په قسم سره درته وایم چې دا رسول الله ﷺ موږ ته په ټینګار سره ویلي وو چې موږ به په لمانځه کې هغه ته نږدې درېږو. (أخرجه الحاکم ۲/ ۳۳۴ بسند صحیح).

امام مسلم بن الحجاج القشیري رحمه په خپل صحیح کې لیکي: لوړ درجه سړی دې له خپل مقامه راښکته نه کړل شي او په علم کې د کمې درجې سړی دې له خپل مقامه پورته نه کړل شي، هر چا ته دې خپل حق ورکړل شي او هر چا ته دې له خپلې مرتبې سره مقام ورکړل شي. مقدمة صحیح مسلم.

په دې برخه کې حافظ السخاوي رحمه الله هم اوږدې خبرې کړې او پردې یې ټینګار کړی چې د لمانځه په څېر د ژوند په نورو برخو کې دې هم علماء او د اړوند موضوع پوهان او ماهرین مخته کړل شي او د هر چا د پوهې او عقل په اندازه دې د هغوی مراتب خوندي کړای شي.

حافظ السخاوي د امام ابو احمد العسکري (۲۹۳- ۳۸۲هـ) رحمه الله له قوله لیکي: دا خپل امت ته د رسول الله ﷺ توصیه ده چې هر چا ته باید د هغه له مرتبې سره سم حقوق ورکړل شي او هیڅوک دې له خپل حقه بې برخې نه شي. الجواهر والدرر في ترجمة شیخ الإسلام الحافظ ابن حجر (۱/ ۶۰). للعلامة شمس الدین محمد بن عبد الرحمن السخاوي (وفاة: ۹۰۲هـ).

له دې معلوماتو څرګنده شوه چې په دې برخه کې د واکمنو لپاره دوه کارونه مهم دي، یو دا چې دوی باید خامخا پوهان او علماء ځانونو ته ورنږدې کړي ، بل دا هم ورته لازمه ده چې د هر کار ماهرین او هرې موضوع متخصصین باید په اړوندو ځایونو کې وګومارل شي د دوی له پوهو، تجربو او مهارتونو کار واخیستل شي.

باید روښانه کړم چې دا خبرې د ثواب او یوازې د چا د احترام او درنښت خوندي ساتلو لپاره نه دي، په دې معنا چې پوهان او علماء هسې په څه شي خوشاله او تش ونازول شي ، بلکې دا خبرې ډېرې مهمې او لازمې دي، له پوهانو، علماؤ او ماهرینو باید کار واخیستل شي، په ځانګړې توګه مشورتي بورډونو کې ځای ورکړل شي. او که داسې ونه شي کارونه پر مخ نه ځي، مشران او کشران واکمن دې په خلاصو غوږونو واوري چې اداري او نظامونه د ډېرورانو، پیره دارانو او ناپوهه ملګرو او انډیوالانو په مشورو ، مرستو او کار نه چلیږي. هره اداره چلول مهارتونه، تخصصونه او له تجربو ډک ماغزه غواړي. **کاپي د حامد افغان له پاڼې**

# طبیعي او ترافیکي پېښې له افغانانو لوړه قرباني اخلي

**حیا ت الله حلیم**

په تېر حکومت کې د مظلومو افغانانو ژوند د امریکااو ناټوغړوهېوادونو د قواو د شپنیوچاپواو ورځنیو عملیاتوپه ترڅ کې له داسې خطرسره مخ و،چې هره ورځ به بلاناغه د ملک په کچه د بمباردونو، کمین نیولو، ډرون الوتکواو شپنیوچاپو په ترڅ کې په منځنۍ توګه ترپنځوسو، شپیتو پورې عملیات ترسره کېدل او په نتیجه کې به د سلګونوبیګناه افغانانوله سرونو قرباني اخیستل کېده ، چې له نیکه مرغه دا پېښې دامریکا اوناټو د اشغال په پای ته رسېدوسره کنترول شوې او په ملک کې داېمن امنیت تامین شو، خو له بده مرغه افغانان د طبعي اوترافیکي پېښوله امله اوس هم قرباني ورکوي .

د االله حکم دی هیڅ په کې نه شو ویلای ځکه نه یې وړاندوینه کېدای شي او نه هم مخنیوی، د ۱۴۰۱ کال د سرطان په لومړی نېټه په خوست ، پکتیا اوګردیزکې زلزلې دسلګونوکسانوله ژوند څخه قرباني واخیستله ، همدارنګه تېرکال دهرات زلزله چې مخینه یې په تاریخ کې نه وه اورېدل شوې په زرګونوکسان شهیدان اوبې کوره کړل چې له نیکه مرغه اسلامي امارت په چټکۍ سره لاس په کارشواو مصیبت ځپلوته د ړنګ شویوکورونوپه بدل کې د نویوکورونو جوړولو تابیا ونیوله اوکورونه یې ورته جوړ کړل ، مهم داچې د زلزلې دپېښوقربانیانوته تراوسه دافغانستان په تاریخ کې د کورجوړلوپروسه نه وه عملي شوې ، یوازې به له زلزله ځپلوسره د خوراکي توکو، خیمواوالبسې مرسته کېدله ، لنډه داچې تراوسه په هیڅ مخکني رژیم کې د زلزله ځپلوپاره کورونه نه وو جوړشوي .همدارنګه د وروستیو اوربښتونواو سیلابونوله وجې ۹۹ کسانوخپل ژوند له لاسه ورکړاو ۶۴ نورتپیان شول ۱۵۰۰ کورونه ویجاړاو۹۳ زره هکتاره کرنیزه مځکه متضرره شوه اوهمدارازپه سلګونو مېږې ، وزې اونورکتې پای څاروي هم له منځه ولاړل .

که پورتنۍ پېښې طبیعي اوخدایي وبولو نوترافیکي پېښې مود خپلې بې احتیاطۍ له وجې رامنځ ته کېږي چې په دې وروستیوکې یې کچه د هېواد په مرکزاو ولایتونوکې دومره لوړه شوې چې بېلګه یې د ترافیکي پېښوپه تاریخ کې مخینه نلري. ترافیکي پېښې زیاتره دلویو اوکوچنیو مسافروړونکو موټروپه لیکوکې را منځ ته کېږي ، همدا وجه ده چې د ترافیکولوی ریاست د هېواد په پنځولویولاروکې د ترافیکي پېښود مخنیوي اوکنترول لپاره یوه برېښنایي مدیریتي طرحه جوړه کړې ده چې له مخې به یې دهرې ترافیکي پېښې ملامت اوسلامت لوری په تخنیکي اوعادلانه ډول څېړل کېږي چې دا طرحه د کابل ـ تورخم ، کابل ـ ګردیز ، کابل ـ فاریاب ، کابل هرات اوکابل - بدخشان په لویو لارو د روان کال په اوږدوکې عملي کېږي ځوپه دې لارو د خطرناکواوزړه بوږنوونکو پېښومخنیوی وشي .د کورنیو چارو د خپرو شویو ارقاموله مخې یوازې په تېرنیم کال کې ۱۹۷۸ ترافیکي پېښې را منځ ته شوې چې له امله یې ۹۴۹ کسانوخپل ژوند بایللی دی .

# خود کفایی در زمینه تولید انرژی برق، سبب انکشاف اقتصادی می شود

**نوری**

برق یکی ازنیازهای اولیه وضروری بشراست، که بدون آن فابریکات صنعتی وشرکت های که کالا واموال تولید می کنند وجود نخواهد داشت. موجودیت برق است که بشراززندگی عصری بهرمند شده است. هنوزهم اکثریت ازمردم ما به انرژی برق دسترسی ندارند؛ امااز اهمیت حیاتی برق اطلاع دارند.درحال حاضربه طورتخمینی۳۰ تا۳۵فیصد ازمردم مابه انرژی برق دسترسی دارند البته به شکل وقفه یی.بناً مردم حق دارند که ازانرژی برق مستفیدشوند.

چندروز قبل غلام جیلانی حق پرست رئیس اطلاعات ونشرات وزارت انرژی وآب به رسانه هاگفت که سرپرست وزارت آب و انرژی با رئیس شرکت یلو ریور- پاور چینا در مورد سرمایه گذاری روی پروژه بند برق باغدره بحث و تبادل نظر نمودند. همینگونه رئیس شرکت متذکره اظهار داشته که آماده است تا در پروژه احداث بند برق باغدره ولایت کاپیسا سرمایه گذاری نماید.

سرپرست وزارت آب و انرژی با اشاره به اهمیت این پروژه بر تسریع کار های مقدماتی سرمایه گذاری وآغاز هرچه زودتر کار های عملی تأکید ورزید واز همکاری این وزارت به جانب شرکت چینایی اطمینان داد.ازمدت۲۵ سال به این طرف حَکومت های که براریکه قدرت نشسته موفق نه شده اند که ساختن بندهای برق رابه هدف تولید انرژی برق جامه عمل بپوشانند. چهارونیم دهه قبل حدود یک میلیون تن درشهرکابل زندگی می کردند ومقداربرق که فابریکات ماهیپر،سروبی،درونته ،نغلو ودیگربندهای تولید می کردنیازهای شهروندان کابل رفع می شد؛امادرحال حاضرکه نفوس درشهرکابل ازسرحد شش ونیم میلیون تن گذشته،نیازهای مردم



چندین برابرشده است.درسال۱۳۸۰ شمسی حکومت به حمایت امریکا وجامعه جهانی ایجادگردید.دراین سالها جهت تنویرشهرکابل وشهرهای مهم کشوربه جای ساختن بندهای برق، به خریداری برق وارداتی ازکشورهای ایران،ازبیکستان،تاجیکستان وترکمنستان توجه گردید، که قراریک احصائیه سالانه ۲۵۰ الی۲۷۰ میلیون دالربابت۱۰۰۰ میگاوات برق به کشورهای مذکورپرداخت می شد.حکومت های آن زمان باجامعه جهانی درمورد ساختن بندهای برق مذاکره کردند؛اماآن به برق وارداتی ازکشورهای همسایه افغانستان تاکید می کرد. نزدیک به۳سال است که امارت اسلامی درسراسرکشورحاکم شده دراین فاصله زمانی درجهت خودکفاشدن افغانستان درزمینه انرژی برق تلاش های راآغازکرده که نمونه بارزآن ترمیم بندهای برق ومذاکره بامسئولین شرکت برق چینایی درموردساختن بندبرق آبدره است. این شرکت چینایی همکاری خودرادرزمینه ساختن بندبرق درآبدره کاپیسا ابراز داشته است. این اقدام ارزشمند وستودنی است. کشورچین که درسطح جهان درزمینه انرژی برق ازپوتانسیل های قوی بهرمند میباشد میتواند افغانستان رامثل دیگرپروژه های خود کمک کند.این کشوردر بخش استخراج وپروسس نفت و گاز درسمت شمال فعالیت های مثبت راچند سال قبل آغازکرده که امروزماشاهدآن هستیم.درحال حاضرکشورما بیشتراز۵ هزارفابریکه دارد که درزمینه های مختلف کالا ومواد تولید می کنند؛امابه علت کمبود نیروی برق اکثراوقات ازطرف روز متوقف میباشند.این روند ضربه بزرگی رابه اقتصاد مردم وکشوروارد ساخته است.به موازات افزایش نیروی برق تولیدفابریکات ما افزایش خواهد یافت واقتصاد کشورما شکوفا می گردد.اکثرفابریکات چون بیشتراوقات روزتولید ندارند ازاینروکارگران کمترراستخدام کرده اند ودرصورت افزایش نیروی برق تعداد کارگران خودراافزایش خواهند داد.سرمایه گذاری دربخش ساختن بند برق، کشورمارادرچند سال آینده خودکفاساخته میتواند،درهمچو حالت انکشاف وتوسعه اقتصادی کشورماتسریع خواهد گردید. با گسترش پروژه های برق ودیگرپروژه ها بربیکاری فایق آمده میتوانیم.قراریک احصائیه، افغانستان سالانه ظرفیت تولید۳۱۰ هزارمیگاوات برق رادارد که۲۳ هزارمیگاوات برق آبی،۲۰۰ هزارمیگاوات برق آفتابی وبیش از۶۸ هزارمیگاوات برق بادی میباشد.باوجود غنی بودن افغانستان ازنظرنیروی برق به کشورهای همسایه محتاج هستیم وهرساله صدها میلیون دالرارزازکشورخارج میشود. درصورت خود کفاشدن خواهیم توانست که این مقدارپول رادرنوسازی وبازسازی دیگربخش ها به مصرف برسانیم.امیدکه درجهت خودکفاشدن افغانستان ازنظرنیروی برق پروژه های بندبرق توسعه یابد وهم زمینه آموزش مهندسین ورزیده ومتخصص رادرسطح پوهنتون های کشورمهیاسازیم. اگرما متخصصین ورزیده درزمینه برق نداشته باشیم هیچگاه ازاحتیاج کشورهای همسایه خلاص نخواهیم شد، لهذا،همکاری چین باافغانستان درزمینه ساختن بندبرق درآبدره کاپیسا بسیارسودمند است.

## بارگاه طلب

**استوار**

بهای وصل توعمر گران بود وبگذشت
شباب ومستی وشور زمان بود وبگذشت
رسید موسم پیری گذشت فصل طرب
چو خوابی جلوه هر این وآن بود بگذشت
به بارگاه طلب حیرتم چه خوش جوشید
نگاه گوشه ی چشمی گمان بود وگذشت
چه رمز و راز بود سهر شعبده هارا
سکوت وههه هه ی آنچنان بود وگذشت
بـه خلوت من ودل گفته ها نه انجامید
شکوه بادیه اندر میان بود وگذشت
چه بی خیال گذشت دورۀ شباب ایدل
همه چو معلبه ی درگمان بود وگذشت

## غزل

**استاد فضل ولي ناګار**

ستا د رحمت درياب به کله په څپو راځي
نوره مې ساه له تلوسو نه په وتو راځي
دُعا که څو ده عبادت د کبريا په حضور
په تسلسل شرم ٬ غيرت له پرښتو راځي
ما هم ځواني کړه نذرانه د کوم ارمان په هيله
وايي د رب حيا له دې سپينو ويښتو راځي
اوس زليخا غونډې ديره يمه د لارې په سر
چې د يوسف کاروان د مصر له کوڅو راځي
د زړه واړه کور کې د لويې مينې شور وګوره
د ناګار خولې ته «أنا الحق» په زمزمو راځي
د ګلبڼ زمزمې.(۰۸۷)

# رحمان بابا در زبان های پشتو، فارسی وعربی تبحر داشت

**شاداب**



**لکه ونه مستقيم په خپل مکان يم**
**که خزان را باندې راشي که بهار**

رحمان بابا شاعر شیرین کلام وبلند آوازه پشتو دریک خانواده فقیر به دنیا آمد هرچند درمورد تاریخ تولد وی اختلاف وجود دارد وهمچنین ازایام کودکی وی معلومات در دست نیست ، اما درآثار مورخان رحمان بابا از طایفه مهمند قوم پشتون است ودر روستایی به نام بهادر درپنج کیلومتری شهرپشاور به دنیا آمده است، رحمان بابا یک شخصیت عالم ،متفکر، پرهیزگاروشاعر بزرگ می باشد وی تمام عمر گرانبهای ودرا در زهد و تقوا سپری کرد به همین منظور درمیان تمام اقوام پشتون شهرت یافت وبه (بابا) مشهور شد اوصاف بارع نکو وصوفی گری او را وداشت که ازمنطقه خود به هزارخانه پشاور برود باعشق وطبعی برمحبوب حقیقی ، جمال وقدرت الهی اشعار پرحلاوت وشیرین بسراید.

دیوان رحمان بابا که برپنج هزار بیت میرسد. به دو دفتر تحریر گردیده است.

که هردفتر آن ازنظر ردیف کامل وپوره می باشد.

اشعار رحمان بابا شامل غزل،قصیده ومخمس بودکه بیشرینه غزل می باشد مفهوم مضامین آن انسان دوستی، معرفت وتصوف بوده که باکمال سلاست و روانی بیان کرده است.

هردو دفتر اشعار رحمان بابا ازنظر فن شعر وژرف نگری های ادبی ولطافت فرقی باهم ندارند بعضی ازمورخان را باور براین است که رحمان بابا دیوان خود را در زندگی خویش ترتیب وتنظیم نکرده اما برخی ها برعکس به چنین باورانـد که نامبرده در زندگی خود خودش اشعار خویش راتنظیم کرده وبه شکل دیوان درآورده است. اشعاررحمان بابا روان، سلیس وشیرین است وبه زبان ساده سروده شده است ومشتمل است برمضامین اخلاقی، اجتماعی وتصوفی تمام اقشار جامعه اعم از پشتون وغیرپشتون اشعار رحمان بابا را درمحافل ومجالس میخوانند ولذت می برند وعام وخاص عاشق ودلبسته اشعار رحمان بابا هستند درمیان شعرا رحمان بابا سبک مستقل وبه خصوص خودرا داشته است تشبیهات، استعارات وسایر نزاکت ها درشعر بابا ویژه گی خود را دارد به همین لحاظ شعرای بزرگ ازسبک و روش رحمان بابا پیروی نموده اند .

نمونه کلام وی :

**ښه ده ښه ده دا دنيا**
**چه توښه ده عقبا**
**په دنيا کې بدي نشته**
**که بدي نه وي له تا**
**کر د ګلو کړه چې سيمه دې ګلزار شي !**
**اغزي مه کره په پښو کې به دې خارشي**
**ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه !**
**چې همدا غشي به ستا په لور ګذار شي**
**کوهی مه کنه دبل سرې په لارکې!**
**چېرې ستا به د کوهي په غاړه لارشي.**

# بدلمني او د هغې نا وړه اغېزې

**تهيه ، ترتيب او ژباړه: محمد علي عظمت**

الله (ج) وايي ( زنا [او دهغه اسبابو] ته مه نږدې کېږئ). نو لاندې به د هغه څو بدې او ناوړه اغېزې وليکم ، څو مسلمانان ځانونه ترې وساتي:

۱ــــ بدلمنو ته د مصيبتونو را مخه شي .
۲ــــ دهغو له زړه د عبادت ولوله له منځه ورې .
۳ــــ په زړه باندی يې مهر لګېږي .
٤ــــ د هغو د ذلت او خوارۍ لامل جوړېږي.
٥ــــ د انسان غوره شهرت او ښه صفت ور سره ختمېږي .
٦ــــ د بدلمنو زړونه توره وي .
۷ــــ هغو د برکتونو له کموالي سره مخ کيږي .
۸ــــ په بدلمنو انسانانو وچکالي او بېوزلي راځي
.۹ــــ د هغو نيک عملونه له منځه ځي .
۱۰ــــ د هغوي زړونه سختوي .
۱۱ــــ د الله او د هغه انسان تر منځ واټن پيدا راولي .
۱۲ــــ د دې کوونکي د قيامت په ورځ د الله ج له رحمته بې برخې وي .
۱۳ــــ د الله ج په وړاندې بدلمنی انسان سپک وي .
۱٤ــــ زنا د قبر د عذاب لامل جوړېږي .
۱۵ــــ بدلمني انسان له پاکې روزۍ څخه محروموي .
۱٦ــــ که څوک يې حلاله ياده کړي ؛ پرې کافر کېږي .
۱۷ــــ د قرآن کريم له علومو هيڅ ګټه نه شي پورته کولی .
۱۸ــــ بدلمني انسان ګناهونو ته هڅوي .
۱۹ــــ بدلمني انسان په استدراجي توګه ، په ګناهونو کې ډوبوي .
۲۰ــــ بدلمني هغوی د دنيا په عذابونو اخته ککړوي .

# ايا جنيات انسان نيولی شي؟

**لطف الرحمن قمري**

د پېريانو نيول انسان ته په عقل او نقل دواړو ثابت دي او دا يو واقعي او ليدل شوی حقيقت دی چې له دې يوازې جاهل او ضدي خلک انکار کوي.

ما د يو ډاکټر پوسټ لوست، چې هغه د پېريانو د نېول کېدو څخه انکار کړی و او ليکلي وو، چې {جنيات په چا راتلل او يا ننوتل هسې ګپ دي} او په کمنټونو کې هم ډېرو خلکو د ده خبره تائيد کړې وه او د پېريانو نيول کېدل يې رشخند کړي وو، نو زه تعجب کې شوم چې مسلمانان او بيا پښتانه هم له دغه شي انکار کولی شي.

نو غواړم چې د قرانکريم او احاديثو څخه درته دا خبره ثابته کړم چې انسان بلکل پېريان او شيطانان ګډوډ کولی شي او دواړه د انسان په رګونو کې لکه د وينې غونډې ګرځي.

اول له قرآن کريم څخه دليلونه:

الله تعالی فرمايي: سورة البقره ۲۷۵ نمبر ايات

ژباړه: {کوم خلك چې سود خوري، د هغو حال به د هغه چا غونډې وي چې پېريانو نيولی وي} دا ژباړه مولوي قيام الدين په خپل تفسير کې ليکلې ده.

امام قرطبي رحمة الله عليه فرمايي: په دې آيت کې د هغه چا د خبرې په فساد دلالت کوي چې د جنياتو په وجه له مرض او نېول کېدو څخه انکار کوي او دا خيال لري چې دا د طبيعيت فعل دی او شيطان{جنيات} په انسان کې نه ګرځي او نه په ده باندې کېني.

دويم له سنت څخه دليلونه:

۱. مطر بن عبد الرحمن الأعنق وايي: ((ما ته أم ابان بنت وازع بن زارع بن عامر العبدي د خپل پلار څخه واقعه بيان کړه چې د دې نيکه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو ليونی زوی يا خوريی بوت. دا وايي، زما نيکه وايي: کله چې موږ مدينه کې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغلو نو موږ عرض وکړ: اې د الله رسوله ما سره زما ليونی زوی (يا خوريی) دی، ما تاسو ته راوستی دی چې تاسو د ده لپاره له الله عزوجل څخه دعا وغواړئ. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ما ته يې راولئ. ما ورته بوته او هغه په رکاب کې و. ليونی ما پرانيست او د هغه نه مې د سفر کالي لرې کړل او دوه ښايسته کالي مې ورته واغوستل او لاس نيولی مې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راورساوه. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ما ته يې رانږدې کړئ او شا يې زما طرف ته کړئ. دا وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه ګرېوان ونيوه او د هغه ملا يې وهله. تر دې چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تخرګونو سپينی وليده او رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: راوځه د الله دښمنه راوځه د الله دښمنه! دې سره مريض د خپل اول نظر نه علاوه په سم نظر سره کتل شروع کړل بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه خپلې مخې ته کېناوه او د هغه لپاره يې دعاء وغوښته او د هغه په مخ يې لاس راکش کړ. نو په دغه وفد کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم د دعاء نه وروسته هېڅوک داسې نه وو چې په هغه باندې غوره شي.)

۲.يعلی بن مره وايي: ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه درې داسې صحنې وليدې چې مخکې هېڅچا دا نه دي ليدلي او نه به يې له ما څخه وروسته څوک ووينې هغه دا چې زه په سفر ووتم او د څه مزل کولو څخه وروسته موږ په يوه زنانه باندې تېر شو چې ناسته وه او ماشوم هم ورسره وو. ما عرض وکړ د الله رسوله دې ماشوم ته څه مصيبت رسېدلی او د ده په وجه موږ هم په مصيبت کې يو. دا ورځ کې پته نشته څو ځله نيول کېږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ما ته يې راوله نو هغه ماشوم ورته ما را اوچت کړ او د پالان تر منځ مې ونيو رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغه باندې درې ځله چف وکړ او ويې فرمايل: د الله په نوم او زه د الله بنده يم. کورې شه ای د الله دښمنه بيا يې هغه ماشوم خپلې مور ته ورکړ او ورته يې وفرمايل: موږ چې کله راستنېږو نو ته په همدې ځاې کې له موږ سره مخ شه او د دې ماشوم د حالت باره کې را ته خبر راکړه چې څنګه شو؟ راوي وايي: موږ لاړو او بيرته راغلو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ستا ماشوم څنګه شو؟ هغې وويل: په هغه ذات مې دې قسم وي چې ته يې په حقه پيغمبر رالېږلی يې، تر اوسه پورې موږ له دې ماشوم څخه هېڅ نه دي حس کړي او دا ګډې وزې ذبحه کړه. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : کوز شه او يوه ترې واخله او نورې بېرته ورکړه. او دا حديث يې اوږد ذکر کړ. امام هيثمي رح وايي دا حديث امام احمد په دوه سندونو سره ذکر کړی او طبراني هم د دې په شان حديث ذکر کړی او د احمد په دوو سندونو کې د يو سند رجال د صحيح بخاري رجال دي.

۳. . صفيه بنت حيي رضی الله عنها فرمايي: نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((شيطان د انسان په بدن کې داسې ځغلي را ځغلي چې څنګه وينه ځغلي راځغلي. متفق عليه.

٤. أبي بن کعب رضی الله عنه فرمايي: ((زه نبي صلی الله عليه وسلم سره وم، يو بانډه راغی او عرض يې وکړ، ای د الله نبي! زما يو ورور دی او هغه ناروغ دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : څه ناروغي لري؟ ويې ويل: په هغه د لېونتوب اثر دی ويې فرمايل ما ته يې راوله هغه بانډه چې خپل ورور د نبي صلی الله عليه وسلم مخې ته کېناوه نبي صلی الله عليه وسلم په سورت فاتحې او د سورت بقرې په اولني آيتونو او دې دوه ايتونو {سورة البقره ۱٦۲ ۱٦۳} باندې دم کړ دغه شان په آية الکرسي او د سورت بقرې په آخري درې آيتونو او د سورت آل عمران په دې آيت شهد الله انه لا اله الا هو او د سورت اعراف په دې آيت: ان ربکم الله) او د سورت المؤمنون په دې آيت فتعالی الله الملك الحق او د سورت الجن په دې آيت (وانه تعالی جد ربنا او د سورت صافات په اولنيو لسو آيتونو او د سورت حشر په درې آيتونو او په (قل هو الله احد) او آخرنيو دوه سورتونو سره دم کړ نو هغه سړی داسې روغ شو ګويا هغه بېخي ناروغ نه .))

د دې لپاره چې موضوع مو ډېره اوږده نه شي په همدغه احاديثو بسنه کوو.

دريم عقلي دليل:

شيخ محمد الحامد فرمايي: هر کله چې جِنات باريک جسمونه دي نو د انسانانو په بدنونو کې د دوی ګرځېدل نه عقلاً منع دي او نه نقلاً.

ځکه لطيف او باريک شی په پېر او ډبل شي کې ګرځي، لکه هوا چې زموږ په بدنونو کې رانوځي. او لکه اور په سکروټه کې ګرځي. لکه بجلي چې په تارونو کې ګرځي. بلکې اوبه وګوره چې په خاورو شګو او کاليو کې وي، سره له دې نه چې اوبه په لطافت او باريکی کې د هوا او بجلي په شان نه دي.

څلورم د علماوو اقوال:

. شيخ اشعري رح) په (مقالات اهل السنة والجماعة کې فرمايي پېريان د انسان په بدن کې ننوتی شي. لکه الله تعالی فرمايي: (البقرة: ۲۷۵)

. عبدالله بن احمد بن حنبل رحمة الله عليه فرمايي:

ما خپل پلار (احمد) ته وويل څه خلک دي چې د هغوی دا خيال دی چې پېری د انسان په بدن کې نه شي داخلېدای نو هغوی وفرمايل اې زويه دا خلک دروغ وايي پېری خو د انسان په ژبه باندې خبرې هم کولای شي. (رسالة الجن، ص۸)

. شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمايي: د جناتو وجود په قرآن سنت او اتفاق د سلفو رح سره ثابت دي. دغه شان د انسان په بدن کې د پېري ننوتل په اتفاق د اهل السنت سره ثابت دي. او دا خو دحس او مشاهدې خبره ده خو چې څوک پرې سوچ وکړي. پېری د انسان په بدن کې ورننوځي او داسې خبرې کوي چې هغه يې نه پېژني بلکې پرې پوهېږی هم نه، بلکې داسې وهل کوي چې اوښ هم ووهې نو مړ به شي حال دا چې په دې باندې دغه نېونکی انسان شخص نه پوهېږي. او دا قول د الله تعالی ( کما يقوم الذي يتخبطه الشيطان من المس او دا قول د نبي صلی الله عليه وسلم (شيطان د انسان په بدن کې د وينې په څېر ګرځي او داسې نور دلايل د دې تصديق کوي. مختصر الفتاوی المصرية، ص ۵۸۴)

.عمرو بن عبيد وايي څوک چې د انسان په بدن کې د جنياتو له داخلېدو څخه انکار کوي، دهري دی. (آکام المرجان، ص ۱۰۹).

. قاضي بدر الدين شبلي فرمايي: په نقلي دليل کې راغلي چې جنيات په انسانانو کې ګرځي.(آکام المرجان، ص ۱۰۹).

او همدارنګه د طب ډېر ماهر ډاکټران هم دا مني چې جِنيات انسان ته داخلېدلی شي.

نو دا بلکل يو منل شوي حقيقت دی چې پېريان انسان نيسې او د هغې په واسطه انسان ګډوډ کېدی شي.

مأخذ {وقاية الأنسان من الجن وشيطان}

# د اشرف خان هجري د شعر نوستالوژيک اړخ

**لومړۍ برخه- تاج محمد**

## لنډيز

اشرف خان هجري (۱۰۴۲-۱۱۰۶ه.ق.) د ستر خوشحال مشر زوی او د نومورِي د تخت او قلم لومړنی وارث او مستحق دی. اشرف هجري هم د پلار په څېر د زندان تورې خوني ليدلي. دی دوه ځلې موقتاً په کابل کې او دريیم ځل ابدا په هند کې د مغولو لخوا پر بند محکوم شوی. هجري پوره څوارلس کاله په ګواليار او بيجاپور زندانونو کې تېر کړل او همالته پسې ومړ. هجري نږدې ټوله شاعري په همدو پورته دوو زندانونو کې پنځولې. هجري له هجرانه ډکه شاعري راپرېښې. نوستالژي تېر ياد ته وايي. په نوستالژيک رواني موډ کې شاعر خپلې ماضي ته ستنيږي او په تخيل کې هماغه رنګين جهان اړوي را اړوي. نوستالژيک درد د ټولو انسانانو مشترک دی او په همدې خاطر نوستالژيکه شاعري د نړيوالې شاعرۍ ښه نمونه ده. طبيعي ده چې انسان پر مرګ محکوم دی او دی چې له خپله اصله را جلا شو نو په فغان سر شو. د نوستالژي کلمه په لومړيو کې د زړه تنګون په مانا کارېدله او يوازې د جلاوطنو په وطن او کور کلي پسې زړه تنګون او رنځ پورې تړلې وه؛ خو وروسته يې معنايي دامنه پراخه شوه. اوس هر هغه افسوس او حسرت ته نوستالژي وايو چې د تېرو په اړه کيږي او يا په اوس تنګ او تروش وخت د تېر هوسا او لذيذ ژوند بيا رايادول دي. شايد له لاسه وتی موقف، وخت، فرصت او ثروت وي. په پښتو کلاسيکه شاعرۍ کې تر هر چا اشرف خان هجري نوستالژيکه شاعري ډېره پنځولې. ده پوره څوارلس کاله په دکن کې په خپل ديار پسې کريغې کړې، خپل ټاټوبی يې ياد کړی او ځان د روهستان بلبل بولي چې اوس په هند کې بندي دی. ددې مقالې مرکزي نکته د اشرف هجري د نوستالژيک شاعرۍ زباتول دي. پر دې برسيره په څو څنګزنو بحثونو کې د هجري پر وجداني عذاب، په تقدير تړلتيا او يو ځای مو د زوی او پلار موزانه هم کړې.

## سريزه

د پښتو په کلاسيکه شاعرۍ کې نه يوازې اشرف خان هجري د نوستالژيکو اشعارو ويار لري؛ بلکې تر ده وړاندې د هجري پلار خوشحال خان خټک هم د مغولو زندان تېر کړی او همالته يې نوستالرژيک اشعار پنځولي. ددې ترڅنګ د اشرف د کورنۍ بل فرد کاظم خان شيدا هم لغړه زنه له سرايه اواره شوی او له خپل دياره ليرې يې د وطن، دوستانو او د کورنۍ د غړو په ياد کې نارې سورې وهلي. له ديواني شاعرۍ ور اخوا زموږ ګړنۍ شاعري هم له نوستالژيکو کريکو مالامال ده. نوستالژي تېر ياد ته وايي او يا له په جلاوطنۍ کې د خپل وطن، د خاپوړو د ځای، د ملګرو او په خپلو خپلوانو پسې کريغو ته وايي.

موږ په دې مقاله کې د اشرف هجري په ديوان کې نوستالژيک شعرونه پلټلي او سپړلي. په پښتو شاعرۍ کې اشرف خان هجري ځانګړی ځای لري او په داد وايو چې د نومورِي شاعرۍ تر بل هر شاعر ډېره نوستالژيکه چاشني لري. پر دې برسيره مو د اشرف خان هجري وجداني ځور، اشرف د تقدير قيدي او د خوشحال او اشرف موازنې په نامه فرعي بحثونه کړي. خو هېره دې نه وي چې د مقالې زياته برخه د اشرف خان نوستالرژيک شعر ته ځانګړې شوې چې زموږ د مقالې اصله برخه ده.

## اصلي متن

نوستالژي تېر هېر ياد ته وايي. يا زموږ تېرې هېرې خاطرې او وختونه چې اوس ورپسې يوازې لاسونه مړو. دا ګړنه په لومړيو کې په جلاوطنۍ کې د خپل وطن ياد ته کارېدله خو اوس يې معنا پراخه شوې. وسمهال هر تېر شي ته چې په اوس کې نشته او يوازې يې يادونه راپاتې دي، ويل کيږي. مثلاً په بل ديار کې د خپلو خاپوړو د ټاټوبي، د لوبو او ساتېريو د ډګرونو، د خپلو همزولو او د خپلو خپلوانو ياد او د هغوی په نشتون کې اوښکې تويول دي.

اکبر کرګر يې په خپل اثر د ((پښتو شعر او تېر ارمان)) کې داسې راپېژني:" نوستالژي يوه فرانسوي ګړنه ده چې له(Nostalgia) چې د يوناني له (Nostos)يعنې تېر ته ستنېدل او (Alogos )درد او رنځ مانا لري. د لغاتو په قاموسونو کې او فرهنګونو کې د تېر ارمان، د غربت غم او د ليرې والي درد په مانا راوړل کيږي." (کرګر، ۱۳۹۷:۵) د انګريزي معتبر قاموس اکسفورډ[۱] يې داسې تعريفوي:" له خوښۍ ګډ يو غمژن احساس چې د تېرو خوشاله وختونو فکر پکې کوي." له دې علاوه د انګريزي بل مشهور قاموس لانګ مين[۲] کې يې په دا ډول تعريف راغلی. "د تير ښه وخت احساس يا هغه فعاليت چې تېر ښه وخت پکې رايادوو او هيله لرو چې نه واى بدل شواى."

بيا هم يادونه کوو چې نوستالژي فقط د وطن ياد ته نه وايي؛ بلکې هر څه چې موږ په تېر کې لرل او اوس يې نه لرو. هغه که ځواني وي، د خپلو مړو ملګرو او اقربه وو ياد وي يا ثروت وي او يا تېر برم. هر شی چې موږ تېر ته بيايي. دا اصطلاح لومړی طبي وه؛ بيا وروسته فلسفې، اروپوهنې او ادبياتو ته راوکوچېده.

موږ خبره پر اشرف خان هجري کوو خو د نوستالژيک شعر څرکونه يوازې د اشرف په ديوان کې نشته؛ بلکې تر نومورِي وړاندې دده پلار خوشحال خان خټک د مغولو لاسونو ته لوېدلی او څلورکاله يې په رنتبور کې تېر کړي. په هغه شعرونو کې د روه ذکر بار بار کوي او د شعر موضوع يې د خپلې سيمې، خپلو بچيانو او خپلو معشوقو ياد دی. همدا ډول د افضل خان خټک تر مرګ وروسته کاظم خان شيدا هم له پلرني ټاټوبي را ليرې شوی او پر هند لګېدلی. ده په تانده ځوانۍ کې کلی کور پرېښی او په شعرونو کې يې د روه حال بيا بيا پوښتلی.

غره بې ځايه د هند سبزانې دي  
غنج و ادا لري که دلستانې دي  
چې دلبري کا بې تکلفه  
د روه په ملک کې ساده خوبانې دي(شيدا،۱۳۳۱:۱۵۱)

او يا يې دا څلوريزه:

نسيمه! ورشه د سرای سواد ته  
له هغه پسه افضل اباد ته  
سلام يې وکړه په دواړه لاسه  
در و ديوار و ګل و شمشاد ته(پورتنی اخځ:۱۳۱)

همدا شان زموږ شفاهي ادبيات په ځانګړي ډول لنډۍ له نوستالژيکو کريغو ډکې دي او ښې پريمانه بېلګې پکې موندلی شو.

هغه دې هېر دي که دې ياد دي  
چه د کړکۍ شمال په دواړو لګېدنه  
ائين(ه) مې څله مخ ته نسئ  
اشنا زما په ځوانۍ اور ولګونه(ډارمستېتر، ۱۳۵۶:۲۵۶)

اشرف خان هجري د خوشحال خټک مشر زوی او د خوشحال وليعهد دی. اشرف خان هجري هم د پلار په څېر د مغولو په زندانونو کې سرې تودې تېرې کړي او همالته وفات شوی هم دی. موږ دلته د هجري د زنداني کېدو پر لاملونو او حالاتو نه غږيږو. دلته يوازې هماغه شاعري څېړو چې د ګواليار او بيجاپور په زندانونو کې يې له خپل استوګنځای ليرې پنځولې. د خديجې بېګم په کتاب د ((خوشحال خان خټک ژوند او هنر)) کې راځي. "د بند ناخوالو او د روه بيلتون له اشرف خان يو خوږژبی او اوږژبی شاعر جوړ کړ او د هجري **۷مخ**

# افغان اعلانات

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم منصور فقیری فرزند زمری فقیری ولدیت عنایت الله فقیری دارنده تذکره نمبر (۲۷۰۲۰-۱۱۰۰-۱۳۹۹) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک امتیاز دواخانه فانوس عشقری واقع ناحیه هفدهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم طارق غلامی فرزند گل زمان ولدیت غلام نبی دارنده تذکره شماره (۵۶۰۴۴-۱۲۰۲-۱۴۰۱) مسکونه اصلی ولایت کاپیسا گردیده است .اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۸۱۹

++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۶۹۴۸۷-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالاحمد فرزند ولی گل بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸۰۵

++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۳۵۹۸-۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای دریا خان فرزند احسان الله بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸۰۰

++++

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم محمد حسین حسینی فرزند حسین بخش حسینی ولدیت جان محمد دارنده تذکره نمبر (۰۸۵۵۲-۰۴۰۰-۱۴۰۰) مسکونه اصلی ولایت غزنی مالک امتیاز دواخانه بلال شینزی واقع ناحیه سیزدهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم غلام علی علیزی فرزند علی بیک ولدیت نور احمد دارنده تذکره شماره (۵۲۷۶۸-۰۸۰۰-۱۳۹۸) مسکونه اصلی ولایت پروان گردیده است .اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۷۷۵

++++

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم عزت الله توتاخیل فرزند حاجی مامور جان ولدیت حاجی حکم خان دارنده تذکره نمبر (۲۳۹۰۲-۱۱۰۰-۱۳۹۹) مسکونه اصلی ولایت پکتیا وکیل شرعی امتیاز دواخانه حاجی مامور جان واقع مرکز ولایت پکتیا طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد یونس خاورین فرزند محمد رفیق عاجل ولدیت حاجی ولی جان دارنده تذکره شماره (۲۵۲۵۲-۰۲۰۳-۱۴۰۰) مسکونه اصلی ولایت پکتیا گردیده است .اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۸۰۹

++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۷۴۳۷-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای گل الدین فرزند عبدالحنان بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸۰۶

+++++++++

### اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم میرویس فیضی فرزند برات ولدیت فیض محمد دارنده تذکره نمبر (۳۲۸۹۶-۰۶۰۳-۱۴۰۲) مسکونه اصلی ولایت بلخ مالک امتیاز دواخانه خیرخانه واقع ناحیه نهم ولایت بلخ عنوانی این اداره عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۸۰۱

++++

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدینوسیله به تاسی از فقره ۲ ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود اینکه اکادمی علوم پروژه تهیه و تدارک هشت قلم خوراکه باب مورد نیاز این اداره دارای نمبرتشخیصیه ASA/1403/G-003 را به قیمت مبلغ مجموعی (۳۸۰۰۰۰) سه صدو هشتاد هزار افغانی با شرکت ابو عزیز لمیتید دارنده جواز نمبر (۳۶۰۰) عقد قرار داد می نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توآم با دلایل آن عنوانی مقام اکادمی علوم واقع مقابل تانک تیل شهر نو کوچه مسجد شاه بوبو جان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرار داد منعقد نخواهد شد.۸۳۰

++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۲۲۹۷-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای ذکریا خان فرزند قدرت الله بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸۱۲

+++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم امید الله فرزند محمد صادق یک عراده موتر پلیت ۷۸۵۱۸ ل کابل نوع هندای کوریایی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای سبحان الله فرزند عبدالله بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸۲۰

+++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۷۴۷۲۱-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای میوند فرزند خالو بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸۱۰

++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت شفیق امان لمتید یک عراده موتر پلیت ۶۸۹۶۵-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای سید کندل فرزند میر غلام سخی بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۷۸۶

+++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت دره ترکمن عجوری لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۱۴۷۹-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای جمشید فرزند محمد طاهر بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۷۸۲

++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت محمد اسماعیل لمتید یک عراده موتر پلیت ۲۸۷۳۸-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای بختور فرزند لعل غمیر بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۷۹۲

+++++

### اطلاعیه دعوت به داوطلبی

شرکت تولید مواد ساختمانی وزارت دفاع ملی جایداد مازاد خویش را شش اطاق به مساحت (۴*۱۷) سایه بان (۱۱*۲۴) میدان ، آن و دهلیز ۳*۲۷ که مجوعا ۹۴۵ متر مربع از طریق داوطلبی به کرایه میدهد.افراد و اشخاص دولتی خواهش قرار داد آن را داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی ۷ روز درخواست خویش را به شرکت تولید مواد ساختمانی واقع عقب دستگاه افغانی هود خیل بسپارند شرطنامه اخذ نمایند.۸۱۱

+++++++

### اطلاعیه‌مفقودی

یک قطعه ایروبل گمرکی به اسم باکو آذر بایجانی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۷۹۹

++++

### اطلاعیه‌لیلام

شرکت امارتی مطبعه صکوک و ضرابخانه در نظر دارد ۷۵ قلم اجناس داغمه جات خویش را به تاریخ ۱۴۰۳/۲/۱۹ از طریق لیلام به فروش برساند . شرکت ها و یا اشخاص که خواهان خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ متذکره واقع سرای شمالی ناحیه هفدهم در مقر ریاست مطبعه صکوک حاضر گردد و ۱۵ فیصد پول تضمین قبل از شروع داوطلبی نقدا اخذ میگردد.۷۷۷

+++++

### اعلان داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه وتدارک(۲٤) قلم اجناس اشتهاری و تبلیغاتی مورد ضرورت قطعات و جزوتام های مرکزی و ساحوی وزارت دفاع ملی سال مالی۱٤۰۳، از روش داوطلبی باز نوع قرارداد باالمقطع اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند. ازتاریخ نشراعلان به روز(۲۲)تقویمی ساعت(۱۰) قبل ازظهر آفرها اخذ میگردد و آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

آدرس ومدت اخذشرطنامه: داوطلبان میتوانند شرطنامه را بشکل کاپی/سافت (CDویا فلش) ازتاریخ نشراعلان الی بیست ویک یوم تقویمی به روزهای رسمی ازشروع رسمیات الی ختم رسمیات از ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل دریافت نمایند همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را ازویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلونموده وحق دارند با اصل شرطنامه آنرا مقایسه نموده واطمینان خویش را حاصل نمایند.

تضمین آفر: بشکل گرانتی بانک مبلغ(۱۰۰۰۰۰) یکصد هزار افغانی میباشد.

تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست ،صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد. ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد, یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبارمی باشد.

محل آفرگشائی: تالار آفرگشائی ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل.

نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسلیمی آفراسناد تضمین آفر، توانمندی مالی، وسایراسنادهای تقاضا شده مندرج شرطنامه راتسلیم نمایند.

+++++

### اطلاعیه کندز

آمریت شرکت دولتی تخمهای بذری مقدار ۴۵۰۰ کیلو گرام گندم پاک و اعلی (۳۷۲۹) کیلو گرام خوارکه و (۴۰۲۴۱) کیلو گرام سه کتگوری گندم ناپاکی موجود گدام خویش را به فروش میرساند.

اشخاص و افرادی که خواهش خریداری انرا داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز کاری به دفتر شرکت تخمهای بذری واقع بندر سابقه کابل متصل سرک چهار دره مراجعه نموده شرطنامه را ملاحظه نموده تضمین نقداً اخذ میگردد.۵۶

## د اشرف خان هجري . . .

تخلص یې خپل کړ، چې له خپلې معشوقې نه د لرې او غمژن مانا ښندي. هجري همدلته د دېوان ځښتن شو." (فیروزالدین، ۱۳۸۷:۲۵۵)

همدا ډول بل ځای وایي:" اشرف خان هجري هډور ځوان و او په جنګي مهارتونو پوه و"(پورتنی اخځ:۲۵۳)

دلته د اشرف خان هجري له دېوانه لومړۍ بېلګه رااخلو:

ځو د یار د مستو سترګو نه جدا یم
لاهو کړی د حیرت خونې دریار یم
د ځیګر وینې مې وخوړې غمونو
مرګه جګې جګې راشه اوس رضا یم
د وصال خوشي لا تنده تر سبا ده
له فراقه یې خسته په سالها یم
یا دکن د غم وطن، ښادي یې نشته
یا په ما غمونو شپه کړه مبتلا یم
د دیدن طمع شکي ده په کالونو
تش دمه د زړه کوم چې نن سبا یم
یو زمان یې خالي کله یم له یاده
بل په خوب کښې په دغه سودوسودا یم
د اورنګ جور آسان چه په صورت دی
په فریاد د فرقتونو له غوغا یم
جو دانه صبر مې کله دی په زړه کې
زه روهي د یار په مخ پسې تالا یم (هجري، ۲۰۱۱: ۱۳۴-۱۳۵)

د اشرف خان هجري په شاعرۍ کې د خپل وطن د کانو بوټواو غرونو بار بار یادونه شوې.

هغه وخت د هجر غم لره سزا شوم
چې له یاره په ژړا ژړا جدا شوم
ما هاله ماتم دځان وکړ په وینو
چې اټک و ته مې شا کړه په ژړا شوم
اوس به څه د وطن کاڼي بوټي ژاړم
د رخصت سلام مې کړی ترې جدا شوم
یو ناوک مې په دل لک راوړ له روهه
ځار و جار مې د باغ و نه کړو خطا شوم
که هر ځو د وطن کاڼي بوټي یاد کړم
په اخلاص به سلام وایم چې جدا یم
دم په دم مې د جان نوم په ژبه ګرځي
زه هجري له بله ذکره مبراه یم(هجري،۲۰۱۱:۱۲۷)

د اشرف هجري اشعار دومره له سوزوګدازه ډک دي چې ډېرې هم ژړوي. دده پر شاعرۍ د (از دل خیزد و بر دل بنشید) مقوله پوره تطبیقیږي.

لکه ما ته شوه درازه د احزان شپه
وهیچا ته پېښه مه شه هسې شان شپه
برایه مې د یار یاد په زړه غالب شه
نهایت مې کړه د درو په سیلاب شپه
په خوږ زړه مې هسې کار کا لکه مالګه
چې رایاده کړم د وصل د زمان شپه
په کومک به د بخت هاله باور وکړم
که مې اوشي یو ځل بیا په کوی د جان شپه
نن حیات څه حیات نه، حیات هغه وو
چې به رونه شوه د روه په کلستان شپه
د هجران له تاوه آه که هجري وکا
تور لوګی به یې کا تل په هندوستان شپه(پورتنی اخځ،:۱۸۷)

د هجري په اندازه نوستالژیکه شاعري هیچا نه ده پنځولې. پوره څوارلس کاله له خپله کویه کوره لیرې و او د خپل ټاټوبی په یاد کې یې شپه او ورځ ژړلي. حتی ادعا کیږي چې د نوموړي د دکني او روهي اشعارو ښه تفکیک کېدای شي.

تر وېښته ځکه نری د غم وطن شوم
په چهره لا څه خو زیړ تر کورکمن شوم
چې مې زړه چا ته ورکړی و مینه
د هغه کور په کابل زه په دکن شوم(پورتنی اخځ:۳۷۸)

دا یې هم دعمر په بې وفایی او د یارانو پر مړینه ویلی:

هغه تللي یاران نه راغله یارغه شول
په کاته مې پسې سترې دوه لیمه شول
ځو به سیل د باغ کوې ګورونه کوره
چه په نس کې یې خوبان د انسان څه شول
رخسارونو چې یې رنګ باخښه و ګل ته
په بستر د مزکې څشکله سپیره شول
په پرون یې په هر لور نورو مورچل کړ
په صورت یې نن د ګور چمچې ماره شول
ډېرو لوی فکرونه کړل په داډ د عمر
ځو هډونه یې د تن به باد خواره شول
هجري ته به څه هوس پخپل ژوندون کړې
چه یاران دې په دا مزکه کې وراسته شول(پورتنی اخځ:۱۲۷)

په بدیع او بیان کې په زندان کې شوې شاعري ته حبسیه شاعري وایي. په دې حساب هم په پښتو ادب کې اشرف تر هر چا لومړی دی. "اشرف خان له خوشحال خټک وروسته هجري هغه شاعر دی چې قوي حبسیه شعرونه یې ویلي او یو لوی فکر یې خپلو پلویانو ته پرېښی."(منګل، ۱۳۹۶:۷۴)

تاسو یې دا بیتونه وګورئ چې د زړه له تله یې ویلي او بیخي ډېر تاثیر کوي:

زه لمبه د هجر مړه کړمه په اوښکو
دا یې بیا راته پوکی سر یې بالا کا
ما په ډېره ناله نو د صورت وچ کړ
لا مې هم چې بانه وچ ویني غوغا کا
که یو دم وصل د یار چاته موجود شي
هغه دم یې بیا ګردون سره جلا کا
هجري ته بانه وچ مه لره چې خوږ یې
ستا په روغ وګړیی څه دي که خندا که(هماغه اخځ:۳۷)

او دا یې هم وروستی بیت:

د زړه باز یې د روه په ځمکه ګرځي
که هجري په دکن ناست خالي بدن دی

### اشرف خان هجري او وجداني ځور

د اشرف خان هجري دېوان ته که سرې ځیر شي نو داسې مالومیږي چې هجري له ستر درد سره مخ و. هجري خپل ضمیر ډېر ځله ملامت کړی، ځان ورته شرمنده ښکاري؛ فکر کوي چې کوم نه بښونکی جرم یې کړی. یوه قضیه یې چې مستندو کتابونو راخیستې، هغه د شیخ رحمکار[۳](رح) د فرزند وژنه ده. " ډېرې مودې راهیسې دا روایت مشهوردی چې شیخ رحمکار فرزند شیخ ضیاالدین وفات له طبیعي اسبابو نه و واقع شوی بلکې موصوف د مولف د پلار په وینا سریو شهید کړی و وایي چې زهر یې ورکړي وو."(ختک، ۲۰۰۶:۳۰)

بله قضیه یې د خپل پلار سره زشت برخورد دی. دې کیسې هم دروني ځوراوه. د سردارۍ په های و هوی کې دی څو ځله له پلار سره نښتی، حتی جګړې یې ورسره کړي. خو له دې سره سره چې خوشحال یې مذمت کړی، خو په وروستیو کې ترې راضي ښکاري.

په دا دومره قباحت اشرف عاق نه شو
چې بهرام دا هسې عاق شه څه حکمت دی
زه ګنهګار یم زیره کستیره
د نورو ډېرو ولې ستا په تېره
صغیر چې خطا شي کبیر یې عفوه کا
بنده معاف کړه ماه منیره(هماغه اخځ:۳۸۶)
که زما په خون مین یې نن د وار دی
د یار عم مې سبا وژني درته وایم
دکفن حاجت یې نشته شهیدان دي
چه په تیغ د هجر مړه دي زه ګواه یم
زه په بند د اورنګ نه یم چې به خلاص شم
بندي کړی شیخ رحمکار زیري بابا یم
په دکن کې پادو نشته چې مې دم کړی
زه خوړلی اژدها توري بلا یم(هماغه اخځ:۱۳۵)

همدا ډول په لاندې شعر کې یې هم په خپله ګناه اعتراف کړی او پښېمان دی.

نن په مخ د ځمکې زه لوی ګنهګار یم
همیشه له خپلو بدو شرمسار یم
د نیکۍ عمل مې نشته شرمنده یم
په دوه داره دې له فضله طمع دار یم
زه خطا کوم همیش ته نیکویي کړې
باري شکر چه پخپل جرم اقرار یم
زه هجري ځکه دایم په استغفار یم(هماغه اخځ:۱۳۲)

لکه څنګه چې خوشحال له خپله عیاله ناکرار و او پخپل کلي کور کې یې نه پرېښود، همداسې د دوی زامنو هم ورته عمل له پلار سره کړی. فکر کیږي چې هجري هم له خپل زویه(افضل خان خټک) راضي نه ښکاري. عبدالباري جهاني خو په خپل کتاب کې ادعا کوي چې اشرف خان هجري په هند کې ازاد و؛ خو د افضل له داره نه شو راتلای."زه یقین لرم چې اشرف خان هجري هم د خپل زوی افضل خان له وېرط پّپ دکن کې اوسیدل او د عمر د وروستیو شپو تېرول یې غوره کړي دي. افضل خان دمیجر راورټي په قول خپل څوارلس اکاګان چې عبدالقادر خان خټک هم پکښې شامل وو، په یوه شپه ووژل. افضل خان یو خودخواه سړی وه او تر مرګه پورې یېد هیڅ تربور پر وینو تویولو صرفه ونه کړه. دا البته د افضل خان ګناه نه وه؛ بلکې د خانۍ د سیستم تقاضا وه. که افضل خپل تربورونه له منځه وړي نه وای هغوی دی له منځه وړ.

نو د خانۍ دمقام د ساتلو لپاره یې ښایي خپل پلار اشرف خان خټک هم له منځه وړی او یا یې داسې په عذاب کړي وای چې هغه ته به تر خپل وطن په دکن کې اوسېدل ښه وای."(جهانی:۱۳۹۶:۱۳۶)

### اشرف خان هجري د تقدیر قیدي

د اشرف خان هجري دېوان که مطالعه شي، وینئ چې دی جبر ته ډېر تمایل لري، هر څه په بخت او تقدیر پورې تړي او بې لاس و پښو ښکاري. نوموړي پوره څوارلس کاله په ګوالیار او بیجاپور زندانونو کې تېر کړي او هره شپېه یې نوي خبر ته غوږونه څک نیولي. د بند په لسم کال یې اورنګزېب خپل دربار ته غواړي او دی انګیري چې نور به ازاد شي؛ خو دده د تمې برعکس یې بیا د پنجرو تر شا کړ. له دې وروسته زموږ زنداني شاعر ته هېڅ هیله نه وه ورپاتې او دا ناره به یې په خوله وه: مرګه جګې جګې راشه اوس رضا یم. هجري ګرم هم نه دی. په لاسونو کې هتکړۍ او پښو کې ځنځیرونه او د تورو پنجرو تر شا؛ نو مجبور چې ازل ته پناه یوسي. بېلګې یې وراندې کوو:

تا که ډېر دولت ټول کړی د جهان دی
عاقبت دې نتیجه واړه ارمان دی
بې کفنه به نور هیڅ ځنې یو نسې
هغه هم بیشکه نه لا په ګومان دی(هماغه اخځ:۳۹۶)

او یا دا څلوریزه:

نهه کاله ګذشته دا لسم کال دی
چه سپهر مې سرګرم په ګوښمال دی
د دنیا طمعې یې تار پّ تار خورې شوې
د غریب هجري امید په ذوالجلال دی(هماغه اخځ: ۳۹۵)

## چین له افغانستان سره سل...

ایالت له «هورګوس» بندره افغانستان ته لیږدول شوې دي. جاو شېنګ همدارنګه ویلي، چې چین افغانستان سره د طبیعي ناخوالو په وخت کې د بشري مرستو لپاره تل ولاړ دی.

## د مالدارۍ او کرنیزو...

په همدې موخه د افغانستان اسلامي امارت ژمن دی، چې د هېواد بزګرانو او مالدارانو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړي، ترڅو په یاده برخه کې ځان بساینې ته زمینه برابره شي.

اسلامي امارت لکه څنګه چې د مقدس جهاد د اهدافو لاسته راوړلو په موخه په هېواد کې د اسلامي نظام ټینګښت او د ټولنې دیني او معنوي اصلاح او بیارغونې ته کلک تعهد لري، همداسې د هېواد اقتصادي پراختیا، ځان بساینه او د نورو له احتیاجه خلاصون هم د یوې مهمې موخې په حیث څاري.

## ازبکستان له افغانستان...

ډالرو په ارزښت کالي له ازبکستان او یا هم د ازبکستان له ګاونډیو هېوادونو څخه ورادوي.د کارپوهانو په اند، د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو همکاریو د زیاتوالي لپاره زیات ظرفیتونه شته. تر دې مخکې د ازبکستان د بهرنیو چارو وزارت په مشرۍ یو لوړ پوړي پلاوي کابل ته سفر کړی و او د دغه سفر په ترڅ کې د دواړو هېوادونو لوړپوړو چارواکو د همکاریو د پراختیا ژمنه کړې وه.

## نړیوال بانک هېواد کې پر یو...

د اماني صندوق له لارې پر پرمختیایي پروژو ولګول شي. د نړیوال بانک د افغانستان د برخې مشر ملندا ګوډ ویلي، نړیوالې پرمختیایي ټولنې په تېرو اتو میاشتو کې د کار موندنې په تېره بیا د مېرمنو لپاره د کاري زمینو د برابرولو په چاره کې یوه تکلاره جوړه کړې ده. نړیوال بانک ویلي، چې د دوی دغه مرستې به د شپږو حوزو له لارې د افغانستان په ۲۶ ولایتونو کې د خلکو لپاره وړاندې شي او ورسره به د مېرمنو او راستنو شویو کډوالو لپاره هم کاري فرصتونه هم په پام کې ونیول شي.

## کندهار کې د پاکو...

۹۰۰ بېکاره ځوانانو ته د ۳ میاشتو لپاره د کار زمینه هم برابره شوې.د اقتصاد ریس ملا عبدالسلام بریالی وایي، چې د کندهار ښار تر څنګ د لیرې پرتو ولسوالیو ولسونو ته هم د پاکو اوبو او نور لازم او ضروري خدمات ورسوي.

## از آنانی که در کشور سرمایه...

الرحمن حقانی، سرپرست آن وزارت با عزت الله سادات نماینده مهاجرین افغان در ترکیه و فتح تاجرترکی ، در دفتر کارش دیدارکرد.

در این دیدار سرپرست وزارت امور مهاجرین گفت: کشور ما طی سال های اخیر مشکلات زیادی را سپری نموده با روی کار آمدن امارت اسلامی زمینه مساعد شده است تا رو به انکشاف و ترقی قدم برداریم و ما از آنانیکه در کشور سرمایه گذاری نمایند حمایت خواهیم نمود. عزت الله سادات نماینده مهاجرین در ترکیه از تامین فضای امن در سراسر کشور خرسندی نموده، مشکلات مهاجرین افغان در کشور ترکیه را با سرپرست وزارت شریک ساخت.سرپرست وزارت عودت مهاجرین متعهد شد که به مشکلات مهاجرین افغان در ترکیه رسیدگی خواهد شد.

## په تېر یوه کال کې نږدې...

ادارو ته یوائې املاکي، فامیلي، دیوني او سوداګریزې عرایض او دعوې وړاندې کېږي.

ښاغلي ابوالحفاظ وویل: چې یوائې د تېر ۱۴۰۲ لمریزکال په اوږدو کې د هېواد په کچه د ټولو حقوقي اداراتو له لوري ۲ لکه ۸۴ زره ۳ سوه ۳۶ حقوقي مسائل اجرا کړي دي.

او ۲ لکه ۱۱ زره او یوه حقوقي قضیې حل و فصل کړې، په دې لړکې یوائې۷۳ زره ۳ سوه او ۳۵ حقوقي دعوې پاتې او تر اجرا لاندې دي، چې إن شاء الله به ډېر ژر حل شي.

نوموړي زیاته کړه، چې د حقوقو اړوند اداري کلنی او ربعوار راپور چمتو کوي او بیا یې د حقوقو عمومي ریاست ته وړاندې کوي، نو په همدې اساس ویلای شو چې د ټول هېواد په کچه په یوه ورځ کې تقریباً ۱۰۰۰ او په یوه اوونۍ کې شاوخوا ۶ زره او په یوه میاشت کې شاوخوا ۲۵ زره نوې عریضې او حقوقي مسایل د حقوقو اړونده ادارو ته وړاندې کېږي.

همداشان هغه وویل، چې د حقوقو د لوی ریاست او په ټول هېواد کې له هغه سره د اړوندو ادارو څخه اصلي او اساسي مقصد پر محاکمو د کار د تراکم را کمول او په اسانه توګه خلکو ته د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره زمینه برابرول دي، نو د همدې مقصد په تر لاسه کولو کې تر ډېره بریده بریا هم شتون لري او په راتلونکي وخت کې هڅه داده چې ښه پلانونه جوړ او په کار واچوو، تر څو د هېوادوالو ستونزې ورسره په ښه توګه حل شي.

د نوموړي پر وینا، طبیعي خبره ده چې وړې ستونزې به کله ناکله مخې ته راځي، خو لله الحمد د ټول هېواد په کچه دا مهال نه په مرکز، نه په ولایاتو او نه په ولسوالیو کې داسې ستونزه لرو، چې موږ ورسره مخ شوي یو او د حل لاره دې ورته نه وي لټول شوې؛ بلکې د تېر اشغال په دوره کې د تېر رژیم د مغرضو کړیو له لوري چې د خپلو شخصي ګټو په غرض هېوادوالو ته د خپلو حقوقو په ترلاسه کولو کې کوم خنډونه را منځ ته کړي وو، اوس هغه ټول له منځه تللي، او مراجعین په آسانۍ سره کولای شي چې خپل غږ او غوښتنه تر اړونده مراجعو پورې ورسوي.

محمد حسن چې دحقوقو په ریاست کې خپله دوسیه لري، د شریعت ورځپاڼې له خبریال سره په خبرو کې خوښي وښودله او ویې ویل چې دې حکومت کې مو ستونزې ډېرې ښې حل کېږي خو په تېرحکومت کې ورته هېڅ پاملرنه نه کېده.

**سمیع الله مومند**

## برگزاری میله دهقان...

ریاست الوزرا از همه بازرگانان و شرکت های داخلی و بین المللی خواست که در بخش زراعت افغانستان سرمایه گذاری کنند. وی بر استفاده از تجارب جدید، عصری سازی سیستم زراعت و آبیاری‌تاکید کرد و اطمینان داد که هرگونه سهولت برای سرمایه گذاران در این بخش فراهم گردیده.

نماینده دهاقین در این مراسم گفت با وجودی که افغانستان دارای بهترین آب و خاک است اما هنوز سیستم زراعت و مالداری به گونه سنتی و غیر معیاری جریان دارد. دهاقین شرکت کننده در این نمایشگاه خواهان جلوگیری از واردات محصولات مشابه کشور گردیدند. خان محمد فروتن نسبت به کاهش مالیات و دستور امیرالمونین درارتباط به استفاده مردم از محصولات داخلی تشکر کرد و گفت اکنون بهترین زمینه برای رشد زراعت فراهم گردیده. در این مراسم پیام ملا محمد حسن آخوند رئیس الوزرا نیز بخوانش گرفته شد و تاکید شد که امارت اسلامی افغانستان از تمامی نیرو و امکانات برای توسعه زراعت و مالداری استفاده می کندر این نمایشگاه محصولات دهاقین از ۳٤ ولایت به نمایش گذاشته شده است.

**داوود ناظری**

## نزدیک به ۲۸ هزار...

اتباع خارجی وارد کشور شده و ۱۲ هزار و ۷۶۱ تن دیگر خاک کشور را ترک گفته‌اند.در خبرنامه آمده که بیشترین ورود و خروج شهروندان خارجی به کشور از گذرگاه‌های نیمروز، تورخم، حیرتان و میدان‌های هوایی بین‌المللی کابل و هرات، صورت گرفته است.

اطلاعات ثبت شده از شهروندان خارجی که به کشور رفت‌وآمد داشته‌اند نشان می‌دهد که بیشتر این افراد به خاطر کار و سیاحت وارد کشور شده‌اند.به گفته اداره احصاییه و معلومات، ولایت‌های بامیان، هرات، کندهار، ننگرهار، غور، بدخشان، کندز، پکتیا، خوست، نورستان، بلخ، سمنگان و کنر مقصد بیشترین گردشگران خارجی بوده است.این در حالی است که امارت اسلامی سهولت‌ها و امکانات ویژه‌ای را برای گردشگران خارجی در کشور، فراهم کرده است.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Thursday 02 May 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 442

# پر بادي او لمریزه برېښنا پانګونه کېږي



د پانګونې بین‌الوزارتـي کمېټې غونډه کې د خصوصي سکټور له لوري هرات ولایت کې د ۵۰ مېګاواټه بادي برېښـنا، بلخ کې د ۴۰ مېګاواټه لمریزې برېښـنا، کابل او غزني کې د سـوداګریزو مارکټونو جوړولـو او د هېواد په پینځو زونونو کې د کرنیزو کمپلېکسـونو رامنځته کولـو پر طرحو خبرې شـوې.دې غونډه کې ټاکل شـویو کمېټو ته دنده سپارل شـوې، څو د طرحو لـه وړانـدې کوونکو شـرکتونو سره د یادو طرحو د مالي، تخنیکي او اقتصادي اړخونو د ارزونې په موخه ګډې غونـډې وکړي او خپل راپورونـه د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

## رویدادهای خارجی

### د فلسطین په ننګه لاریونونو زور اخیستی

غزه کې د فلسطیني وګړو د نسل‌وژنې او صهیونیستي رژیم پر ضد د امریکایي او استرالیایي پوهنتونونو محصلینو د لاریونونو سربېره، د یادو لاریونونو لمن تر وینزویلا هم رسېدلې ده. تازه‌دوینزویلا په پلازمینه کاراکاس کې هـم زرګونه محصلینو د فلسطینیانو په ملاتړ ورته لاریونونه پیل کړي. یادو لاریون‌کوونکو د صهیونیستي رژیم د بریدونو او نسل وژنې پر وړاندې شعارونه‌ورکړي‌دي.ورته مهال د نیویارک ښار پولیسـو د کولمبیا پوهنتون له یوې ځانګې لسګونه‌فلسطیني پلوه‌لاریونوال نیولي دي. دغـه‌راز کالیفورنیا پوهنتون کې لاریونونه په تاوتریخوالي اوښتي او د مخالفینواواعتراض‌کوونکوتر منځ‌نښتې شـوې دي.د وروستیو شمېرو له مخې د تېرې‌شنبې په‌ورځ ۲۳ محصلین په اندیا پوهنتون‌کې، ۱۰۲ د بوسټن په‌نورد‌ایسټرن پوهنتون‌کې او ۶۹ نور بیاد ایروزونا ایالت په پوهنتون‌کې نیول‌شوي‌دي.



### چین کې د لارې د نړېدو پېښه کې ۲۴ تنه مړه شوي



د چین په سویل، ګوانګ دونګ ولایت کې له یو غره سـره نړېدې د لویې لارې د نړېـدو له امله لږ تر لږه ۲۴ کسـان مړه شوي دي.دغې پېښه کې ۱۸ موټر یو په بل پسـې له لویې لارې اوښتي او لاندې غورځېدلـي دي. د چینایي چارواکو په خبره ښایي د مړو شویو په شـمېر کې زیاتوالی راشي.سیمه ییزو مسولینو رسنیو ته ویلي، چې نړېدلې لاره ښایي د وروستیو سختو اورښتونو له امله وروسـته شـوې وي، چې د چهارشنبې په شپه یې کسر وکړ. پېښه کې یو شـمېر کسـان ټپیان شوي هم دي، چې د درملنې لپاره روغتونونو ته لېږدول شوي دي.د یادونې وړ ده، چې وروستیو سـېلابونو د چین په بېلابېلو سیموکې سخت ځاني او مالي زیانونه اړولي دي.

### یک مرد در لندن ۱ تن را کشت و چندین تن دیگر را زخمی کرد



پولیس لندن می‌گوید که یک مرد جوان در این کشـور توسط شمشیر یک نفر را کشـت و ۵ نفر دیگر را زخمی کرد. رسـانه‌های خارجی به نقل از پولیس لندن گزارش داده‌اند که این مرد حدود ۳۷ سال سن دارد و با ضربات شمشیر جوان ۱۴ ساله را به قتل رسانیده است. بر بنیاد گزارش ها این کودک که گفته می شـود ۱۴ سال سـن داشت به اثر جراحات بیش از حد لحظاتی پس از انتقال به شفاخانه جان باخت.به گفته پولیس این کشور این مرد شمشیر به دست پنج تن دیگر را همچنان زخمی کرده است.هر چند انگیزه این قتل تا هنوز مشخص نیست و اما سخنگوی پولیس لندن گفته که به دنبال مظنون دیگری نیسـتند و گمان نمی‌رود که خطری در این منطقه‌وجودداشته‌باشد. ریشی‌سوناک‌نخست‌وزیر انگلیس در حساب ایکس خود این حمله را شوکه کننده‌خواندونوشت: «چنین خشونتی هیچ جایی در خیابان‌های ما ندارد.»

**توجه !**

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!

سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان

## از آنانی که در کشور سرمایه گذاری می نمایند حمایت می کنیم



سرپرسـت وزارت امور مهاجرین و عـودت کننـدگان در دیـدار با نمایندهـگان مهاجریـن افغان در ترکیه گفـت:از آنانیکه در کشـور سرمایـه گـذاری نماینـد حمایت خواهیـم کرد.دفـتر مطبوعاتـی وزارت امـور مهاجریـن و عودت کنندگان دیروز با نشر این خبر گفته است: الحاج خلیل **۷مخ**

## بیش از ۳۰ تانکر تیل بی کیفیت به ایران برگشت داده شد

اداره ملـی نورم و سـتندرد اعلام کرده کـه موظفین ایـن اداره ۳۳ تانکر حامل تیل بی‌کیفیت که قرار بـود از ایران وارد شـود را دوباره به این کشـور، برگشـت داده‌اند. بربنیاد خبرنامه، تانکرهای حامل تیل بی‌کیفیـت از بنـدر ابونصر فراهی در ولایت فراه به این کشور برگشت داده شده است.

بـه گفتـه اداره ملـی نـورم و سـتندرد، تیل‌های که قرار بود از طریـق ایـن تانکرها وارد شـود، با سـتندردها برابر نبوده اسـت. اداره ملی نورم و سـتندرد کشـور از تاجران می‌خواهـد که از وارد کردن تیل‌های بی‌کیفیت به داخل کشـور، خودداری کننـد. این در حالی اسـت که هفته گذشـته نیز تانکرهای حامل تیل بی‌کیفیت از سـوی کارمندان اداره ملی نورم و ستندرد به ایران برگشت داده شده بود.

## ۶۴ تن از مهاجرین افغان از محابس پاکستان رها شدند

وزارت امور مهاجرین از رهایی شصت چهار تن ازشـهروندان کشوراز زندان های پاکستان خبر داددفتر مطبوعاتی وزارت امور مهاجرین دیروز با نشر این خبر نگاشته اسـت: به اساس گزارش اتشه امور مهاجرین افغان مقیم اسلام آبـاد، ۶۴ تن از مهاجـران افغان مقیم پاکسـتان به تاریخ ۵ ثور سال روان، از بازداشت رها شـدند. منبع افزود که از جمله افراد یاد شده ۶۳ تن که چهار روز را در بازداشـت پولیس آنکشور بودند ویـک تن دیگر چند مـاه قبل به جرم نداشتن اسـناد قانونی زندانی شده بود که با سعی و تلاش اتشه امور مهاجرین و قنسلگری امارت اسلامی مقیم شهر کراچی پاکستان از زندان های ایالات سند و پنجاب آنکشور رها و دو باره به خانواده های شان ملحق شدند.

د سترې محکمې دحقوقو لوی ریاست:

## په تېر یوه کال کې نږدې ۳۰۰ زره حقوقي قضیې حل شوې

**شـریعت:** نـږدې درې کالـه کېـږي چـې پـه افغانسـتان کې اسـلامي امـارت حاکمیت لري او ترټولـو لویه لاسـته راوړنه یې په هېواد کـې سرتاسـري دادمن امنیـت، د حکومـت ټینګوالـی، پـه بېلابېلو برخوکـې اقتصـادي مختګونـه او د ګاونډیانـو پـه شـمول له ټولي نړۍ سـره د مثبتو اړیکـو رامنځته کـول دي ، دغه راز اسـلامي امارت په سـلګونو نوري لویې او وړې لاسته راوړنې هـم لري، خـو موږ دلتـه یواځې پـه حقوقـي برخه خبـرې کوو.د افغانسـتان د سـترې محکمـې د حقوقـو د لوی ریاسـت عمومي رییس مفتي محمـد ابراهیم جان «ابوالحفاظ» شـریعت ورځپاڼې خبریال ته په یـوې ځانګړې مرکه کې وویل: چـې د حقوقو عمومي ریاست او اړوندو**۷مخ**

## چین له افغانستان سره ۱۰۰ میلیونه یوان مرسته اعلان کړه



په کابل کې د چین سـفیر جاو شـېنګ وایي، چې هېواد یې له افغانسـتان سره د ۱۰۰ مېلیونه یوانو چې شـاوخوا ۱۴ مېلیون ډالره کېږي، د مرستې لومړۍ جوپه خوځېدلـې او ډېر ژر به کابل ته ورسـېږي. د چین سفیر پر خپلې تویټر پاڼې لیکلي، چې دغه مرستې د سېنکیانګ**۷مخ**

## کندهار کې د پاکو اوبو یوه زېرمه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

د کندهار ولایت غورک ولسوالۍ په پیر قدم کلي کې د یادې سیمې د اوسـېدونکو په غوښـتنه د پاکو اوبـو یوه شـبکه جـوړه او پرون یې پرانیسـته وشـوه.یاده شبکه د کندهـار اقتصاد ریاسـت د دریو میاشتو په موده کې د (اته پنځوس زره شپږ سـوه دوولس) امریکایي ډالرو په لګښت جوړه شوې، چې په یوه وخت کـې د لس زره لېټره اوبـو د ځایولو ظرفیـت لري، او اوس مهـال یې له برکتـه د یادې سـیمې ۲۲۰ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه رسـېږي.دیادولو وړ ده چې د دغـه پـروژې د تطبیق پر مهال د یادې سیمې**۷مخ**

## در ۹ ولایت کشور کمک‌های بشردوستانه توزیع شده است

وزارت احیـاء و انکشـاف دهات می‌گوید، بـرای حـدود ۴۸ هزار خانـواده در ۹ ولایـت کشـور، کمک‌های بشردوستانه، توزیع شده است.این وزارت با نشر خبرنامه‌های جداگانه از توزیع این کمک‌ها، خبر داده است.

بربنیـاد خبرنامه‌هـا، کمک‌هـای یادشـده به خانواده‌های نیازمند در ولایت‌های، غور، نیمـروز، کندز، بغـلان، لوگـر، فاریـاب، هلمند، ننگرهار و پروان، توزیع شده است.

از این میـان، تنهـا در ولایت غور به بیش از ۱۷ هـزار خانواده کمک بشری توزیع صورت گرفته است. به گفتـه وزارت احیاء و انکشـاف دهـات ایـن کمک‌هـا شـامل موادخوراکی و پول نقد بوده است. ایـن وزارت افزوده کـه کمک‌های بشردوسـتانه از سوی برنامه جهانی غذا (WFP) بـه نیازمندان، فراهم شده است.



## غور کې د اوبو رسونې دوې پروژې جوړېږي

د غور د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست مسـوولینو په یاد ولایت کې د اوبو رسـولو د دوو شبکو د جوړولو چـارو د پیل کېدو خبر ورکـړی دی. د غـور د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست د رسنیو دفتر مسوول ذبیح الله غوثي زاده ویلي چـې د اوبو رسـولو دغه دوه سولري شـبکې د یونسیف موسسـې پـه مالي ملاتـړ د ۸ میلیونـه ۴۲۸ زره ۸۵۳ افغانیو په لګښت د یاد ولایت په دولینه او تیورې ولسوالیو کې جوړېږي. د یادو شـبکو په جوړېدو سره به په دغو دوو ولسـوالیو کې ۲ زره کورنیو ته د څښـاک اوبه برابرې او ۳ سوه کسانو ته به د کارزمینه هم برابره شي.